# پښتانه څوک دي ؟

لیکوال

سرمحقق دوست شینواری

د پښتنو توکم بیل بیل نومونه:

پښتون، افغان، پټان، روهي، سلیماني

ACKU

# پښتانه څوک دي ؟

PROPERTY OF ACKU

لیکوال

سرمحقق دوست شینواري

۱۳۷۷هـ.ش / ۱۹۹۸م کال

پیښور ښار

PROPERTY OF ARIC Established 1989

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00007603 3

ACKU

# بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پیژندنه:


د کتاب نوم : پښتانه څوک دي؟

لیکوال : سرمحقق دوست شینواری.

مهتمم : ستانه میرزهیر.

د چاپ شمیر : زر ټوکه.

دچاپ ځاي : دانش کتابپلورنځی. ډکي نعلبندي. قصه خواني.

کمپوزر : عبدالصبور "کریم" (مشعل لیزر کمپوزنگ سنټر، یونیورسټي روډ، پشاور)

د چاپ کال : ۱۳۷۷هـ . ش / ۱۹۹۸م کال.

دیوه ټوک بیه (۲۰) روپۍ


ACKU

# فهـــــرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| سریزه | الف |
| * د پښتنو نسب | ۱ |
| *د پښتنې ټولنې په جوړښت کې درې عمده توکې | ٦ |
| ۱ - سلیمان ، سلیمانیان | ٦ |
| ۲ - ساک | ۱۹ |
| ۳ - سامی توکم | ۲۷ |
| *د پښتنو توکم بیل بیل نومونه : | ۳۳ |
| - پښتون | ۳۷ |
| - افغان | ٤۰ |
| - پټان یا پټهان | ٤۹ |
| - روه ، روهیلی ، روهیله | ٦۰ |
| *د پښتنو درې څانگې : | ٦۷ |
| الف - سړبن | ٦۹ |
| ب - بیټنی | ۷۰ |
| ج -غرغوشتی | ۷۰ |
| * ماخذونه | ۷۲ |


ACKU

# ســـــریزه

پښتنو د نسب په اړه په مختلفو وختونو کې مختلفې نظريې وړاندې شوې دي ، خو د وروستنيو څېړنو په نتيجه کې دا په علمي توګه منل شوې چې پښتانه اصلاً په ختېـ ږو اريا يي قـوم دی او ټولې هغه نظر يې چې پخوا د پښتنو د نسب په باب ويلې شوی غير علمي او تشې افسانې دي . مؤلف په خپله رساله کې په دې اړه څه ويل نه غواړي بلکې خپله پاملرنه هغو افسانوی روايا تو ته ګرځوي چې د پښتنو د نسب په هکله ځنو مؤرخينو را اخيستي دي .

مؤلف ليکي : تر هغه ځا يه چې موږ ته مستند ده لومړني افسانوی روايت د جلال الدين اکبر (١٥٤٢ - ١٦٠٥ م ) په عصر کې د يو غير پښتون له خوا وړاندې شوی چې پښتانه يې د (ضحاک) نوسی د يوا ولاده بللي ده .هره افسانه يوه منشاء لــــری

د پښتنو د نسب په اړه دغه روایت بې اساسه نه دی ځکه چې ضحاک یعنې (سهاک ،ساک )د پښتنو د توکم یوډیر مهم توکی دی چې عربو مؤلفینو د (سهاک ) نه (ضحاک ) جوړ کړی دی او د سیمې په کلاسیکو ادبیاتو کې ، بیا هغوی د تشدد ، قوت او غښتلتیا له امله د دیو سمبول ګڼل شوی دې .

د دغه روایت په مقابل کې پښتنو مؤرخینو په دې زور اچولی چې پښتانه د دیو اولاده نه ، بلکې دسامي (بنی اسرایل )توکم څخه دی .

ځکه چې د هغه وخت دعامه ذهنیت سره سم سامی توکم خورا یو شریف او نجیب توکم ګڼل کیده او د نړۍ انبیأ او پیغمبران په کې پیدا شوی وو ، او دبلې خوا د پښتنې ټولنې په جوړېدو کې ځنې سامی عناصرو هم بوه د یادونې وړ برخه لرله چې دغې نظر یې ته یې قوت ور کاوه خو ورستیو ژورو علمی څیړنو وښودله چې دا هم یوه افسانه او کوم علمي اساس نه لري . مؤلف په خپله رساله کې دغه روایتونه دافسانو په توګه نه بلکې د یوې منشأ لرونکو روایتونو په توګه څیړلی او د هغو نه یې نوی حقایق لاس ته راوړی دي .

په دې رساله کې د پښتنو د نسب تر څنګ د پښتنو د توکم بیل بیل نومونه لکه : پښتون ، افغان ، پټان ، روهی یا روهیله هم په مفصله توګه څیړل شوی دي . په دې هکله مؤلف وایی : د پښتنو موجوده ټولنه د اوږدو پېړیو په بهیر کې عموماً له دریو



ACKU

توکو څخه جوړه شوی ده چې د برستر یې ( سلیمان ) بل یې ( ساک ) او دریم یې د بر کوچنی ( عبرانی ) توکم دی . د دغې ټولنې وګړی د زمان او مکان د بیلو بیلو شرایطو په رڼا کې د افغان ، سلیمانی ، پټان او روهی په نامه هم یاد شوی او یادیږی .

په دې څیړنه کې د ځنو مغرضینو او شکاکانو د هغو استعماری نظر یو څخه پرده پورته شوې چې د ډیوړنډ د کرښې د یوې او بلې خوا یو پښتون قوم په نسبی لحاظ سره بیلوی او هغوی په بیلو بیلو نومونو یادوی .

مؤلف د خپلو څیړنو په پایله کې زیاتوي : د پښتنو نسب چې د لرغونو مؤرخینو له خوا لیکل شوی دی نه یوازې افسانوی رنګ لری بلکې له اضدادو هم خالی نه دی مثلاً : له یوې خوا د پښتنو نسب په عنعنوي توګه طالوت ، حضرت یعقوب ( ع ) او حتی ابوالبشر ادم ( ع ) ته رسوی خو بلې خوا بیا د پښتنو پلار قیس عبدالرشید بولی او د غه سلسله د اسلام د لومړی پیړۍ نه پیل کوی چې نه یې هغه او نه یې دا نظریه د منلو وړ ده .

د دې رسالې محتویات او مفاهیم د افغانستان د علوم اکاډمۍ د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز د علمی غړی ارواښاد سر محقق دوست محمد دوست شینواری د هغو علمی څیړنو پایلې دی چې د خپل ژوند په اوږدو کې یې د هېواد په مختلفو خپرونو کې نشر او چاپ ته سپارلې وې ، بیا یې د غه څیړنیزې مقالې سره منسجم کړی

د یو لږ زیاتو نو او کمو نوو روسته یې د غه رساله ترینه جوړه کړې وه .

مونږ د غه رساله د ده له مړینې (۱۳۷۲ هـ . ش) وروسته د هغه د کتابتون په یوه کنج کې پیدا کړه ، د ځان سره مو پیښور ته راوړه او د چاپ په انتظار مو تراوسه ساتلې وه . له نیکه مرغه او د لوی خدای (ج) په فضل او مهربانۍ موږ په دې بریالی شو چې د یو کال په موده کې د هغه دوه غوره اثار چې یو یې ژبپانګه (قاموس) او بل همدا رساله (پښتانه څوک دي؟) په خپل شخصي لګښت چاپ کړو ، او امید لرو که په راتلونکې وخت کې مالي امکانات را سره مله شي د هغه څو نور نا چاپ اثار لکه : (د خوشحال خټک هغه اشعار چې تر اوسه نه دي چاپ شوي ) ، (اختیارات بدیعي ) او (په پښتو کې د طبي بوټو نومونه ) هم چاپ او خپلو هیوادوالو ته وړاندې کړو . و من الله التوفیق .

همایون دوست شینواری

اوکراین جمهوریت ، د کیف ښار

۱۹۹۸ کال ، د اګست میاشت .

ACKU

# د پښتنو نسب

ترڅو چې موږ ته مستنده ده د پښتنو د نسب په باب پوښتنه لومړی ځل په هند کې د ګورګانی پاچا جلال الدین اکبر (۱۵۴۲-۱۶۰۵م) په عصر کې را منځ ته شوه. د دغه پاچا په دربارکې د ایران کوم استازي د پښتنو د نسب په باب کوم افسانوي روایت وړاندې کړی و او په یوه کتاب یې حواله ورکړې وه چې د دغه روایت له مخې پښتانه د ضحاک (سهاک، ساک) نومي دیوله نسله دي.

دغه روایت ډېرو مؤرخینو لکه صولت افغاني، نیرنګ افغاني او نورو رااخیستی دي : مخزن افغاني په سریزه کې هم ویل کېږي :

ACKU

( په هیڅ کتاب او تاریخ کې د پښتنو د احوال او نسب سلسله لکه څنګه چې ښایي هغه شان مفصله نه ده وړاندې شوې مجهوله او نا معلومه پاتې ده . )

له دغه عبارته معلومیږي چې د پښتنو د نسب په باب به تر دغه وخته کوم معلومات نه وو او یا به دومره کم او جزیي وو چې د مخزن د مؤلف قناعت یې نه شو ترسره کولی.

په هر صورت له همدغه وخته د پښتنو د نسب په باب اساسي څیړنې را منځ ته شوې چې وخت په وخت پکې نوې نوې تحولات راغلي دي .

د پښتنو د نسب په باب هماغه لومړی نظر چې د ایران استازی د توهین په لهجه وړاندې کړی و چې پښتانه یې د ضحاک نومي د یو اولاده بللې ده که د توهین او افسانوي افادې زواید یې صیقل کړو د پښتنو د نسب په باب د غه روایت بې اساسه نه دی ، ځکه چې ضحاک (سهاک ، ساک ) د پښتنو د ترکم بو ډیر مهم توکی دي چې همدغه روایت د پښتنو کلاسیکو مؤرخینو له خوا او هم دوروستیو ختیځ پوهانو له خوا تایید شوی دی.

په حقیقت کې د پښتنو د توکم په باب دا لومړی سم او د منلو وړ روایت دی چې د پښتنو او د ساکو د دوو سترو څانګو ګډون او له دغه ګډون څخه د پښتنو د اوسني تولنې تشکل څرګندوي چې په دې باب به وروسته خبرې وکړو .

د دغه روایت په مقابل کې چې په توهین امیزه توګه د غیر پښتنو عناصرو له خواوړاندې کیده چې ګویا پښتانه د ضحاک نومي دیواولاده ده پښتنو مؤرخینو له یوې خوا په دې زور واچاوه چې پښتانه: دیواولاده نه بلکې له سامي توکمه دي. دوی په دې موضوع زما په خیال په دوو لحاظونو زور واچاوه:

۱- دغه روایت یو اساس درلود ځکه چې د پښتنو په یولنه جوړولوکې سامي عناصرو یوه د یادونې وړبرخه لرله چې وروسته به یرې څه وواېو.

۲- د هغه وخت دعامه ذهنیت سره سم سامي توکم خورا یو شریف او نجیب توکم ګڼل کیده چې د نړۍ پیغمبران او انبیاء یکې پیدا شوي وو.

دغه روایت لومړي پښتنو مؤرخینو: د مخزن افغاني مؤلف خواجه نعمت اله هروي، خوشحال ختیک، افضل خان ختیک، حافظ رحمت خان او حتی په وروستیو وختونو کې تواریخ خورشید جهان، حیات افغاني او نورو هم تایید کړ اوتر دغه وخته پورې د یوه عنعنوي روایت په دود پرمخ بیول کیده چې د مرحوم قاضي عطاالله خان (د پښتنو تاریخ) او (پښتانه د تاریخ په رڼا کې) په تاریخي مهمو اثارو کې یې هم اغیزه ښکاري. البته دغه نظر ورو په ورو واوښت او اوس د یوه افسانوي روایت په توګه ګڼل کیږي او ځای یې دغې عقیدې ونیوه چې د اروپایي محققینو له څیړنو یې منشاء اخیستې چې پښتانه له سامي توکمه نه، بلکه اریایان دي.

ایا رښتیا هم :ا یوه مطلقه افسانه ده چې پښتانه له سامي توکم څخه وګڼل شي او که څه منشا ٔ هم لري؟

راځئ چې د غه روایتونه د افسانو په توګ نه ، بلکې د یوې منشا ٔ لرونکو روایتونو په توګه لږ څه وڅیړو ګوندې څه نوي حقایق مو لاس ته راشي . د پښتنود تو-لنې په جوړولوکې زما په نظر د تاریخ په بیلو بېلو پوړیو کې لږ تر لږه دریو عناصرو عمده رول لوبولی دی . په بل عبارت که د غه تولنه یوې ودانۍ ته ورته وبولو عموماً له دغو دریو توکو جوړه ده :

الف -- هغه ځانګه چې د تاریخ په خورا لرغونو زمانو ، یعنی په اوستایي عصر کې د (سیریم) په نامه بیا د یوناني مؤرخینو له خوا د پکت او پښت په نامه یاده شوې چې دا اصلاً د پخوانی افغانستان او سدونکي یا په بله ژبه د اوسني افغانستان د یوې خورا سترې برخې یعنې عموماً د سلېمان د اصلي او لرغونې سیمې اوسیدونکي دي .

ب - ساک ، سهاک چې عربو مؤلفینو د سهاک نه ضحاک جوړ کړی او د سیمې په کلاسیکو ادبیاتو کې هغوې د تشدد ، قوت او غښتلتیا له امله د دیو سمبول ګڼل شوي دي ، په اوستایي متونو کې د (تور) په نامه هم یاد شوې چې پراخه سیمه یې د (توران) په نامه یاده شوې ده .

ج ــ د دغې ټولنې په تشکیل اوروغولو کې سامي نژاد هم یوه د یادونې وړ برخه لري چې د پښتنو پخوانیو مؤرخینو له خوا دومره اهمیت ورکړ شوی چې د دغه واړه جز د کل ځای نیولی دئ .

# د پښتنې ټولنې په جوړښت کې درې عمده ټوکې

## لومړۍ ځانګه: سلیمان، سلیمانیان:

د سلیمان نوم د پښتنو په ایتنوګرافۍ کې ژورې رېښې لري: د پښتنو یو لرغونی ټاټوبی د سلیمان غرونو په نامه یادیږي چې د افغانستان په جنوبي برخه کې پروت او تقریباً شپږ سوه کیلو متره اوږدوالی لري، خو د (سلیمان) سیمه د (سلیمان غرونو) څخه پراخه ده چې باید د دغو غرونو پورې محدوده ونه ګڼله شي، بلکې د دغه غرونه د هغې یوه وړه برخه ده چې په زړه کې یې ځای لري.

سلیمان خېل د پښتنو یوه ستره قبیله ده چې د روانې پېړۍ په پیل کې یې نفوس (۳۹۰) زره تنه حساب شوي دي. (۱)

---

(۱) وګورئ جغرافیه افغانستان - کابل د (۱۳۰۱) کال چاپ همدارنګه (د ختیځ هیوادونه او وګړي) پنځلسمه خپرونه ۱۶۹ مخ.

او همدارنگه د پښتون ، افغان ، پټان اوروهي ترڅنګ د پښتنوتوکم د (سليماني) په نامه هم ياد شوی دئ .

دلته په لومړی نظر داسې ښکاري چې د پښتنو په نسبي سلسله کې چې سامېت په معنوي توګه ډېر وخت دوام درلود دلته به هم د سليمان نوم په دغه ارتباط ياد شوی وي .

دا موضوع چې اوس په علمي توګه منلې شوې ده چې پښتانه اصلاً او عمدتاً هو اريايي توکم دی ، نوزه په دې باب نور څه نه وايم ، بلکې غواړم په دې موضوع څه رڼا واچوم چې د پښتنو په ايتنوګرافي کې د سليمان کلمه بيا څنګه منځ ته راغلې او دومره ژورې ريښې يې غزولې دی . ايا دا (سليمان) يوه سامي کلمه ده — او که اريايي ريښه لري ؟

ددې کلمې په لټون پسې به د لرغونو اريايي روايتونو ژورو ته سر ور ښکاره کړو او هلته به ددې کلمې ريښې ولټوو .

دلرغونو اريايي روايتونو په بډايه زيرمه کې يوه هم د فريدون افسانه درج ده چې بيا وروسته يې د سيمې په پخوانيو تاريخي او ادبي اثاروکې ژورې ريښې غزولی دی . له دغې افسانې څخه د (ايران، توران او سليمان) درې نومونه لاس ته راځي . افسانه وايي : فريدون چې دنړی پاچا و درې زامن يې لرل چې سرم (سلم) ، تور او

ایرج نومیدل .

لومړی دواړه له یوې مور وو چې دشهنامې په قول (شهریار ) نومیده او ایرج کشرئ ورور له بلې مور و چې (ارنواز ) نومیده په دې باب فردوسي لیکي :

زسالش چو یک پنجه اندر رسید — سه فرزندش امد گرامی پدید
ببخت جهاندار هر سه پسر — سه فرخ نژاد از در تاج زر
ازین سه دو پاکیزه از شهر ناز — یکی کهتر از خوب رخ ارنواز

په یوه بل روایت چې له دغه روایت سره تضاد نه لري د سلم او تور مورد مشهور افسانوي شخص ضحاک لور وه او په دوو کلونو کې ترې دوه زامن (تور اوسلم ) وزیږیدل ، چې صورت او سیرت یې د خپل نیکه (ضحاک ) په څېر وو او ایرج د یوې بلې ښځې نه پیداشو چې د ایران د یوه ستر شخص لور وه . (۱)

فریدون خپله پاچا یې دغو دریوزا منوتر منځه وویشله چې سلم ته یې روم تور ته یې چین (چینی ترکستان )او ایرج ته یې د ایران زمکه ورکړه . دغه ویش فردوسي داسې یاد کړی دئ :

---

(۱) تاریخ حبیب السیر (۱۸۳) مخ

نخستین به سلم اندرون بنگرید همه روم و خاور مرا وراگزید

بفرمود تا لشکری بر کشـــید گرازان سوی خاور اندر کشید

دگر تور را داد توران زمـــین ورا کرد سالار ترکان وچـــین

یکی لشکر نامزد کرد شـــاه کشبد انگهی تور لشکر براه

وزان پس چونوبت بایرج رسید مرا ورا پدر شهر ایران گزید . . .

افسانه وایي : ایرج چې د فریدون کشر او نازولی زوی و او هغه ته یې د ایران ښه زمکه ورکړه سلم او تور ته په دې رخه پیدا شوه او له خپل پلار (فریدون) سره یې د جنگ اراده وکړه ، ایرج په عذر سره خپلو مشرانو مېره زېو ورونو ته ورغی ، هغوی په تیګی سره وواژه او د هغه سر یې فریدون ته واستا وه .

د دغې افسـانې په باب په پهلوي ادبیاتو ،د اسلامي عـصر په تاریخي آثارو او شهنامـه کې ډېر مطالب راغلي دي خو په اوستـا کـې د دغـه ویش ته یوازې یوه اشـاره ښکاري چې په دیارلسم یشت (فروردین یښ ت ۱٤۳بند ) کې د فریدون ددریو زامنو د هیوادونو ځرک په کې لیدل کیږي .

هلته وایي :

د ائیـریـن (ایران) د ملکونـو د پاک دینو سرېـو فـروهر (اسـمـاني روحي سـبـک ) سـتـاېـو ، د ائیرېن د ملکونو پاک دینو ښځـو فـروهو سـتـا ېـو ، د توئـیرېن (توران) د ملکونو د پاک دینو سرېو فروهر ستاېو د توئیرېن د ملکونو د پاک دېنو ښځو فروهر ستاېو ، د سیریمین (سیریمان -سلیمان ) دملکونو د پاک دینو سرېو فروهر ستایو ، د سیریمین د ملکونو د پاک دینو ښځو فروهر ستایو (۱)

محققین عقیده لري دغه درې دوله ملکونه هماغه درې برخې دي چې فریدون خپلو زامنو ته د نرۍ په ویش کې وربښل کړي دي .

نامتو مستشرق کرستن سن د دغې افسانې منشا ، ساکي ټاتوبی بللی او وایي چې دا شکانیانو په عصر کې دغه افسانه له ساکوڅخه نوراریاني فولکلورته داخله شوې ده .ساکي افسانه وایي چې ددوی با د شاه نړۍ د خپلو درېو زامنو :

۱-سیرمین( Sairimyan ) سیریمیان ، سریمه( Sairima )

۲-تویرینه( Tuiryana ) توران

۳-ایرینه (Airyana ) ایران تر منځه وویشله ، لومړی یقیناً سرم (سیریمیان) دویم توران او دریم ایران دئ . (۲)

---

(۱) فرهنگ نامهای اویستا (۵ ، ۷ )مخ

(۲ )فرهنگ نامهای اویستا (۸۷-۸۸ ) مخونه

په هر صورت افسانه وايي : د فريدون په ويش مشران ورونه خوښ نه وو او له دغه امله د ايرج ، سلم او تور د پلويانو تر منځه پر له پسې جګړه پيل شوه ، د ايرج د کسات اخيستلو له پاره د لور له خوا د هغه نمسي منوچهر چې لا نوی زلمی (ابلوغ) و پورته شو فريدون هغه د سيستان بوه اتل ته چې (سام) نوميده د روزنې له پاره وسپاره . له روزنې وروسته منوچهر د سام او د سيستان د نورو اتلانو په ملګرتيا د تور او سلم د هغــو لښکرو مــقـــابلې ته ووت چې د دوی په زمکه يې يرغل کـــړی و .

د تور او سلم سرونه يې غوڅ کړل ، هغه يې فريدون ته واستول او له پاتې لښکرو سره يې سوله وکړه . (۱)

اوس به راشو دې ته چې سلم څوک دی ؟

**سلم څوک دی :**

د سلم د ( ل ) په سکون د تشخيص په باب محققينو بيل بيل نظريات وړاندې کړي دي . د پور داود په عقيده د سلم (سرم) هيواد په اوېستاکې سيريمه (Sairima) راغلی دی او يقيناً همدغه سلم او سرم دی .

سلم په پهلوي متونو کې د سرم (Sairm) په غير راغلی چې هماغه د ساکي سيريمين او د اوېستا سيريم دي . ځينو لرغونو مؤرخانو د دغې کلمې د اصالت په

(۱) د دغې جګړې ځای ځينو بابل ښودلی دی (افرينش تاريخ ۱۲۵) مخ

مراعات د ( ل ) په ځای په( ر ) ليکلی دی لکه چې طبري ليکلی دي : (وکان ثلاثت بنين اسم الاکبر سرم والثانی طرج و الثالث ایرج ) - (ترجمه: دري زامن وو، د مشر توم سرم د دویم طرج او د دریم ایرج و )ځینو بیا لکه د (افرینش تاریخ )او د (تاریخ حبیب السیر) مؤلفانو (۱) د (ل) په غیږ راوړی دی. اوس به راوګرځو خپل لومړی مطلب ته چې سلم څوک دی ؟

سلم ، تور او ایرج که څه هم د افسانوي فریدون دري زامن یاد شوي دي خو یقیناً هغوی دریواړه د دریو عزیزانو او سره نژدې توکمونو ، سمبولونه دي ، نو د هغوی دریواړو ټاټوبي باید همدلته زموږ په اریایي خاوره کې ولټول شي .د ساکي سیریمین (سیریمان) د اویستا (سیریم) او د پهلوي (سرم) چې په شهنامه او ځینو نورو اثارو کې (سلم) شوی دی داد شهنامې او نورو مؤلفینو کارنه دی چې د ( ر) غږ یې په ( ل ) اړولی دی، بلکې دغه په اریایي ژبو کې غږیز معمول بدلون زموږ په سیمه کې د دغه توکم په نامه کې راغلی و چې په شهنامه او نورو کې یې انعکاسي موندلی دی .دغه بدلون به د ساکې په سریمین (سیریمان ) کې ولټوو څکه چې د (سلیمان ) کلمه له همدغې سیریمین بشپړ او مکمل فورم دی ، دغه کلمه پښتانه سلیمان (Sleman)او قوم ته یې سلیمانخیل (Slemanxel)وایي . نه سولیمان

---

(۱) افرینش تاریخ دریم توک (۱۲۵) مخ او د حبیب السیر (۱۹۳) مخ

او سولیمانخیل چې داد عربي په اثر بیا وروسته (سولیمان )شوي دي . (۱)

لکه چې وویل شول د پښتنو پر لرغوني تاتوبي (د کسي غر ) د سلیمان د غره په نامه یادیږي همدارنګه د پښتنو یوه ستره څانګه د سلیمان خیل په نامه یادیږي او حتی خپله پښتانه د پښتون، افغان ، پټان ، او روهي ترڅنګه د سلیماني په نامه یاد شوي دي په ډیرو تاریخي کتابونو کې حتی په پښتو - پښتواو د اسلاتوف په پښتو روسي قاموس کې هم داموضوع درج ده .

په دې باب د راورټي یوه یادونه په زړه پورې ده چې د (بیلیو) د یوې اشتباه په باب یې کړېده :

ښاغلی بیلیو د خپل وروستي کتاب په (۲۲ ) مخ کې لیکي :

(د کوچنۍ اسیا مسلمانان او د لویدیزې اسیا هیوادونه په ښکاره ددې فرضیې له مخې چې پښتانه د سلیمان لړۍ په غرونو کې اوسیږي نو پښتون ته سلیماني وایي که داسې وي نو د غه نوم په غلطه توګه استعمالیږي ځکه چې په هغه لړۍ کې پښتانه میشته نه دي ) .

راورټي لیکي : دا دلیکوال تیروتنه ده ، پښتانه د سلیمان په غرونو کې اوسیږي او دوي یوازې په لویدیزه اسیا کې د سلیمانیو په نامه نه یا دیږي بلکې په شمالي او

(۱) په (سولیمان) او (سولیمان خیل ) کې (و) د لفظي اشتباه د لرې کولو په غرض ولیکل شو

ختیځه اسیا کې هم په دغه نامه یادیږي . د مثال په توګه ( خلیل افغان ولی ) چې د هغه شکلي ګنبځه د ګنګاه په غاړه په چونارګړ کې ولاړه ده د شیخ قاسم سلیماني په نامه یادیږي . ( ۱ )

په دې باب الفنستون وایي :

عربان دوي ( پښتانه ) سلیماني بولي خو دا هیڅ معلومه نه ده چې دوې په دې نامه ځکه یادیږي چې د سلیمان په غرونو کې اوسیږي او یا داد هغه چانوم و چې د عربو د حملې په وخت کې د دوی مشر و . ( ۲ )

اخوند درویزه لیکي : پښتانه په سلیمان غرونو کې اوسیدل همدا سبب دی چې دوی په عربستان کې د سلیماني په نامه یادیږي . ( ۳ )

همدغه شان یادونه په ډیرونورو تاریخي اثارو لکه حیات افغاني ، تواریخ خورشید جهان او داسي نورو کې راغلې ده چې چا دسلیمان پیغمبر سره د قرب له امله او چا په سلیمان غرونو کې د تاتوبي د لرلو له امله دوی د ( سلیماني ) په نامه یاد کړي دي . او پښتو بې د سلیماني ژبې په نامه هم یاده کړې ده ، مثلاً تواریخ خورشید جهان

---

1-Notes on Afghanistan and baluchistan P.527

(۲) د کابل سلطنت بیان لوهری ټوک (۱۶۳-۱۶٤) مخونه

(۳) تذکرت الابرار والاشرار د پیښور چاپ (۸۳) مخ

يوځاى ليکي :

(عرب ايشان را سليماني ، در فارس افغان، در هندوستان پتهان و در افغانستان پښتون گفته مى شوند . همچنان زبان اين قوم بافغانى و سليمانى و پشتو مشهور است . ) (۱)

که خبره له افسانو را وباسو او هغې ته دلرغونې ساکي د (سر يمين ) اويستا د (سريم ) اوبيا د (سلم) سره ارتباط ورکړو يقيناً به زمورږدغو پوښتنو ته چې سليماني غرونه ولې د (سليمان) په نامه ياد شوي دي ؟د پښتنو ستره پښه (سليمان خيل ) ولې د سليمان په نامه ياده شوې ؟ او پښتانه ولې سليماني بلل شوي دي ځواب ورکړ شوى وي .

دلته د يوې بلې خبرې يادونه هم ضروري ده : د سلم او تور مور يوه بلل شوې چې هغه هم د توراني ضحاک لور وه او بيا دايرج په مقابل کې د تور (توران )او سلم (سليمان ) وحدت او يو لاس کيدل پښتنو (ياد پښتنو د يوې څانگې ) او ساکو (تورانيانو ) تر منځه د ايرج په انډول د دوي د ډير نژدې او مهم ارتباط څرګندوى او شاهد دى او همدغه حقيقت له تاريخي بيلو بيلو اسنادو څخه هم په لاس راځي .

په يقين سره ويلې شو چې د سلم (سليمان ) هيواد به دايرج او تورد هيوادو نو

---

(١) تواريخ خورشيد جهان ( ٥٣٠ )مخ

تر څنګه واقع و چې د هغه یوه مهمه برخه د (سلیمان) غرونه دي.

له تاریخي شرایطو سره د تاریخي جغرافیوي سیمو حدود تغییر کوي، نو مونږ اوس په یقیني توګه نه پوهیږو چې په اویستایي عصر کې به د (سلیمان) د هیواد برېدونه کوم وو، خو په ډاډ سره ویلی شو چې دا به د تاریخي افغانستان د یوې لویې برخې نوم و او. یا به له هغې سیمې سره مساوي وه چې کله د (روه) کلمه د (پښتو نخوا) او کله هم په حدود العالم، تاریخنامه هرات، توزوک تیمور، توزوک بابر، روضه الجنان، زین الاخبار، احسن التقاسیم فی معرفت الاقالیم، تاریخ سیستان، تاریخ یمینی او په داسې نورو *شلګونو پخوانیو تاریخي اثارو کې، د افغانستان او اوغانستان په نامه یاد شوی دی او حتی سیفی هروی په تاریخنامه هرات کې (۳٦) ځایه د افغانستان او دوه ځایه د اوغانستان په نامه یاد کړی دی. په دغو پخوانیو اثارو کې تاریخي افغانستان او (سلیمان) د یوې سیمې نومونه دي. بابر په خپل توزوک کې د خپل وخت کابل سیمه داسې را پیژني:

کابل له څلورم اقلیم څخه دی په اباده کې واقع دی شرق ته یې لمغانونه او پر شاور (پښښور) او کاشغر او د هند ځینې ولایتونه واقع دي. لویدیځ ته یې غرونه دي چې غور هم په دغو غرونو کې دی. شمال ته یې کندوز او اندراب دی د هندوکش غر په

منځ کې دی . جنوب ته یې فرمل او تغر او بنوافغانستان واقع دی . ( ۱ )

د تاریخي افغانستان ، روه ، سلیمان او پښتونخوا د سیمو دقیق حدود نه دي تاکل شوي خو د بیلو بیلو مواردو څخه له یوې خوا د دغو نومونو تر منځه نسبتي تطبیق او له بلې خوا د دوي حدود اټکل کیدلئ شي چې د غه څلور واړه نومونه د یوې واحدې سیمې تاریخي نومونه دي چې داوسنی افغانستان یوه پراخه سیمه یې احتوا کړې ده .

(بیلیو ) د دغې سیمې شمالي بریدونه د سوات او پنجکوړې لوړې برخې ، د لوګر د سیند جنوبي بریدونه ، د پښین شال او د یوړې دره چې اباسین ته رسیږي - ختیځه پوله یې اباسین او لویدیځه پوله یې د سلیمان د غرونو نهایي لویدیځ بریدونه تاکلي دي. ( ۲ )

د محمد قاسم په تاریخ فرشته ( ۱۰۱۵ هـ ق ) کې دروه حدود چې له همدغې سیمې سره سمون لري داسې ښودل شوي دي :

روه د یوې مخصوصې غرنۍ سیمې نوم دی چې د طول له مخې د بجور (باجوړ ) او سوات نه د سبوی تر قصبې چې د بکر له

---

(۱) بابر نامه ( ۸۰ ) مخ

(۲) تاریخ افغانستان جلد اول ( ۲۹ - ۳۰ ) مخونه

توابعو ده او دعرض په اعتبار له حسن ابدال (دچج هزاره وادي) نه تر کابله او ترکندهاره په دغه منځ غره کې واقع دی .

روسي نامتو محقق و . و . برتولد (۱۸٦۹ - ۱۹۳۰) د سلیمان د غرونو په باب یوه یادونه لري چې دلته یې را نقلول بیځا په نه ښکاري . نوموړی وایي: (د هند ، د هیلمند د حوزې او دولاړو اوبو ترمنځه سیمه د سلیمان د غرونو په نامه شهرت لري . انګریزان د دغه لاندې ولایت د غرونو سرحدي لړۍ د سلیمان د ختیځو اولویدیځو غرونو په نامه یادوي . په دغو غرونو کې په قبل التاریخ ادوارو کې افغان اولس چې له اریایي توکم څخه دی میشته و . دوی ځان ته پښتون ، پختون ،وایي چې هیرودوت په پکتیا نو یادکړي دي .

افغانانو په دغه غرنۍ سیمه کې چې د چا لاس نه پرې رسیده ډیر اوږد وخت د مسلمانو سلاطینو د سیاسي سیادت او د اسلامي تمدن په مقابل کې ټینګار وکړ تردې چې په څوارلسمه پیړۍ کې د امیر تیمور په وخت کې زیات پښتانه بت پرستان وو ........ دغه پښتانه د غزنویانو او دغوریانو په وخت کې خپلواک وو ). (۱)

لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه د برتولد دغه یادونه یوازې د سلیمان دغرونو په باب ده نه دسلیمان د هیواد په باب . یقیني ده چې د سلیمان هیواد او په لرغونو

(۱) جغرافیه تاریخی ایران-برتولد (۱۳۰-۱۳۱) مخونه

یادونو کې افغانستان د یوې سیمې دوه نومونه دي .

## ۲- ساک :

د پښتنې ټولنې د تعمیر یو ډیر مهم عنصر د ساکو توکم دي . د پښتنې ټولنې په جوړولو کې د ساکو د اغیزې په باب ځینو پوهانو دومره مبالغه کړې چې حتی پښتانه یې یوازې د ساکو دویم نوم بللی دی. مثلاً په ( ۱۳۵۵ ش ) کال کې د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز پرانیستلو په ویاړ په نړیوال سیمینار کې نامتو او ستر پوهاند مورگن سترنې په خپله وینا کې پښتانه ساک وبلل . البته د هغه د وینا کمزورې اړخ دا و چې د سلیمان د غرونو او په افغانستان کې د نورو لرغونو پښتنو یادونه پکې نه وه .

دلته دوه خبرې د خاصې یادونې وړ دي:

الف : غور چې د پښتنو ډیر مهم سیاسي او کلتوري مرکزو د هغه ځای پښتانه اصلاً ساکه هوما ورگه دي .

ب: د نورو پښتنو سره د دوی ژبنی کلتوري ارتباط او د پښتنې معاصرې ټولنې په رغاونه کې د دوی اغیزه ژورې ریښې لري .

الف : ساک د منځنۍ اسیا په لویه غیږ کې په بیلو بیلو ( ساک، سهاک، سک، سکیت، سکیف ) او نورو نومونو یاد شوي دي . دغه لوی قوم د شمیر د ډیر والی او د

سیمو د پراخوالی له امله لکه څنګه چې په بیلو بیلو نومونو یاد شوی دیٔ همدغه شان د بیلو بیلو کلتورونو خاوندان او د بیلو بیلو سیمو او سیدونکي هم وو چې هم د سیمې او هم د کلتور په لحاظ د یوه نامه لاندې ټول ساک راټولول ګران کار دی خو د هغوی مشهور قبایل دادي:

هوماورګ (یا امورګ)، ساک، دریبیکان، اسبان، یا کسرتیان، اپسیاک، اتاسی او کاسی (۱) او داسې نور.

هوماورګ (د هوماایشوونکی) چې د (امورګ) په نامه هم یاد شوي دي. داد ساکو یوه لویه څانګه ده چې هیرودوت د (امورګی) په نامه یاد کړي او د هغوي د استوګنې سیمه یې اساساً د مرغاب وادي ښوولې او د نورو کلتوري سیمو په څنډو پېڅکو کې هم اوسېدل.

د میلاد نه د مخه زرو کلونو په نیمایي کې په پامیر او هغه ته په نژدې سیمو کې یوه واحده ټولنه جوړه شوې وه چې واحد کلتور یې لاره تصور کیږي چې داد هوماورګ ساکو ټولنه وه چې د نقش رستم په یاد ګار او د دارا په نورو کتیبو کې یاد شوي دي. او هیرودوت د (امورګی سکیفیانو) په نامه یاد کړی دی او د هغوی د اوسیدلو سیمه یې د (سکیفیانو د نړی) جنوب ختیځې څنډې ښوولی دی.

---

(۱) (س) یونانی تلفظ دی چې د پښتو (-زی) لکه اورکزی یوسفزی په یاد راولی.

دلته د هیرودوت دا خبره دځاصې یادونې وړده چې وایي : (ساک د امورګی سکیفیانو نوم دی. (۱)

دغه ساک که څه هم د منځنۍ اسیا په ټولو کلتوري حوزو لکه باختر، سوغد مروه خوارزم، فرغانه او نورو کې د کوچ اولېږد په دود اوسیدل خو دمېشت اساسي ځای یې د مرغاب د سیند وادي وه (۲)

دزړې پارسي د کتیبو له مخې ساک د وینې نه، بلکې دسیمې په لحاظ داسې ویشل شوي دي:

۱ - تېره خولی ساک چې غالباً دسیر دریا په شمالي دښتو کې اوسیدل.

۲ - هوما ورګه ساک چې اساساً د ارغنداب په حوزه کې وو.

۳ - له سوغده پورې ساک.

٤ - له سینده پورې ساک غالباًدوی دارال له سینده پورې پراته وو.

او په دې توګه باور لرو چې د غور ساک د همدغو اموراګو (هوماورګو) ساکو پورې اړه لري، نه د کوم بل قوم پورې یې.

---

(۱) (دپاکستان اولسونه ، (٦٢) مخ

(۲) د خوارزم د لرغونی تمدن ... (٤٠١ ) مخ او داریاني فیلالوژۍ اساسونه (٦٢) مخ

ب : لکه چې د باختر یا ، اراخوزیا (کندهار ) درنګیانا (سیستان )اهمدارنګه دنورو هغو سیمو چې کلاً یا جزاً د اوسني افغانستان په تشکیل کې داخل دی ، جغرافیوي نومونه څرګندوي چې په دغو سیمو کې د (ق . م ) لومړیو زرو کلونو په نیمایي کې د اوسیدونکو عمده اکثریت د اریاني د ختیځې څانګې په دیالیکتونو خبرې کولې .

د درنګیانا ، باختریا اوارا خوزیا په سیمو کې (۲-۳ ق . م ) پیړیو کې د ختیځو اریاني ژبو داسې دیالیکتونه موجود وو چې یو له بله یې توپیر بیخي کم و . دغو لرغونو ختیځو قبایلو هغه اساس کېښود چې وروسته پرې د اوسني افغانستان اریایي ژبو ملیتونو انکشاف وکړ .

دلته د دغو سیمو د دیالیکتونو د نژدیوالي په باب په زړه پورې ده چې د مثال له پاره باختري ژبې تاریخي فونیتیکي نخښې نښانې وړاندې شي چې له یوې خوا د سوغدي ، خوارزمي ، پارتیاني او له بلې خوا د معاصرې پښتو تر منځه موقعیت لري .

البته د غه انکشاف ډیر اوږد او ډیر پیچلی و چې ډیرې پیړۍ یې دوام درلود . او هغه قومونه چې د قبل المیلاد د زرو کلونو په نیمایي کې په باختریا ، اراخوزیا او درنګیانا کې اوسیدل د معاصر و اوسیدونکو قومونو لرۍ نیکونه وو .

لکه چې ژبنی شواهد څرګندوي د پښتو ژبې په تشکل کې ډېر ستر رول ساکي ژبو لوبولی دی .

په دې برخه کې دا یادونه په زړه پورې ده چې لا په ق. م . (٦-٤) پیړیو کې د پروپامیزاد او د لویدیځ کندهار اوسیدونکو د ساکي قبایلو له نږدې سره ارتباط درلود او که له دې مخکې نه وي نو امکان لري چې همدغه وخت د افغانستان سیمې ته د ساکو د نفوذ مرحله وګڼله شي .

البته ځینی محققین لکه اف . توماس Thomas ) او له هغو پسې نورهندي مؤرخین عقیده لري چې د هخامنشیانو په عصر کې ساک په درنګیا ناکې اوسیدل . ددې نظر یې د تردید له پاره څه نشته . خو په ارخیالوژیکو اسنادو هم تراوسه نه دی تایید شوي . (١)

زما خپل نظر داسې دی چې حتی لا په اویستایی عصر کې د ساکو ځینې برخې (امورګی ساک) همدلته اوسیدل البته په زردشتي متونو کې چې ساکو ته بد ویل شوي ددې شاهدي ورکوي چې ساک دلته موجود وو او د زردشتي ټولنې سره په چم ګاونډ کې اوسیدل .

د پښتنې ټولنې په تشکیل کې د ساکو خصوصاً امورګو ساکو اغیزې ته د مخه

---

(١) د افغانستان تاریخ - لومړی ټوک (٦٩) مخ

PROPERTY OF ACKU 7603

اشاره وشوه . په دې برخه کې یو انگریز مؤرخ سراولف کیرو داسې وایي :

هیرودوت په خپله تذکره ( ۴۵۰ ق م ) کې د ساکو په باب لیکي : دوی پر توګونه اغوستل او اوږدې تیره څوکه لرونکي خولۍ یې پسرولې . د خپل هیواد په لیندو او غشیو وسله وال وواو یو تبر به یې له ځانه سره درلود چې د (سګاریس - Sagares) په نامه یادیده . په حقیقت کې دغه وګړي امورګین تورانی وو ، خود ساکو په نامه یادیدل ، ځکه چې ایرانیانو ټول تورانیان په دغه نامه سره یادول . امورګوساکو په هغه ژبه خبرې کولې چې د اوسنۍ پښتو اساس دی.) (۱)

د پروفیسر دورن ، الفنستون او داسې نورو مؤرخینو عقیده ده چې د غور خلک یقیناً په اصل کې پښتانه دي . بیلیو وایي زه غالب ګومان کوم چې دا دهغه قوم اولاد دئ چې په ۱۰۰۹ م کال کې یې د سلطان محمود لښکر چې د هند نه راستون شواو دسترو غنایمو سره غزني ته روان و په لاره کې غلزیو لوټ کړل اوبیا په ۱۰۱۰ م کې سلطان په قهر او ددوی په مضبوطه کلا حمله وکړه او هغه یې ورانه کړه. (۲)

خپله د پښتنو په مربوطو کلاسیکو تاریخي کتابونو کې هم د پښتنو او ساکو (په ساکوکې له کومه تفکیکه پرته ) د یوکیدو په باره کې زښت ډیر روایتونه وړاندې

(۱) د ( پټهانز ) څلورم فصل (۵۸) مخ

(۲) د افغانستان تاریخ د بیلیو تالیف (۷۸) مخ

شوي دي مثلاً د مرات الاغنه مؤلف په دې باب ليکي :

څرنګه چې لوي خداى اسباب جوړوونکى دى داسې سبب يې جوړ کړ چې د پښتنو جوهر د ضحاک له نژاد سره ګډ شو او د برياليتوب هغه شوکت چې د پښتنو نه تللى و : بې بې متو د اولادې په برکت بيرته په برخه شو .

په دې باب په رالونکو څو کرښو کې د تواريخ خورشيد جهان نه يوه برخه راخلو چې که څه هم افسانوي رنګ لري خو په هغه کې حقيقت څرګند ځاى لري .

تواريخ خورشيد جهان غورته د سامي توکم د راتګ په باب بو ځاى ليکي : بخت نصر کلداني چې د بيت المقدس دشام سيمې ونيوې د بني اسراييلو د دوو لسو قبيلو د وژلو او تړلو اراده يې وکړه . له هغه ځايه بني اصف او بني افغان وتښتيدل ، ورو ورو ځانونه يې د غور ساخر (ساغر ) او فيروز غرونو ته ورسول ، دلته د ضحاک د توکم سره په څنګ کې ميشته شول او د ضحاک د قوم سره يې الفت ،اختلاط او ورور ګلوي او شير ارتباط پيدا کړ غم بنادي تول يې سره شريک کړل.

تواريخ خورشيد جهان ليکي :

بيا افغانان هلته ( په غور کې ) تنګ شول مالونه او دوي په ( ۲۱۲ هـ ) کې هلته د سره زيات شول چې د غور په غرونو کې نه ځاييدل په پنځو څانګوو ويشل شول : سړبني بيټني ، غور غښتي متي ، کرراني . بيا د غور نه راووتل په هرات .

ACKU

کندهار ، غزني کې خپاره شول او څه یې په غور کې پاتې شول خو د سبکتگینانو او سوریانو تر منځه د جګړې د اور د لګیدو وروسته ټول پاتې پښتانه له غوره ووتل او له پورتنیو ځانګو سره یو ځای شول پرته له څلوروچې دوه یې د ضحاک له اصله او دوه یې د افغان له نژاده وو . د ضحاک له نژاده یې سوري او جمشیدي او د افغان له نسبه تایمني او فروز کوهي چې دغه څلور یې په ساخر فروز کوه او بادغیس کې یو ځای میشته شول . سوریان په تدریج سره کم شول او له حسابه ولویدل . (۱)

د افغانستان په تاریخ او جغرافیه کې عموماً او د پښتنو په تاریخ کې خصوصاً دغه حقیقت ستر اهمیت لري چې د ساکو د لرغوني ټولنې زښتې ډیرې نخښې نښانې اوس هم دلته موجودې دي .

په بامیانو کې نن هم د ضحاک د ښار په نامه د یوه لرغوني وران شوي ستر ښار کنډوالې موجودې دي ، په پښتنو کې ډیرې قبیلې ساکي منشأ لري لکه سوریان ، لودیان ، غوریا خیل ، دلهزاک او حتی خپله د ساک په نامه یوه پښتنه نسبتاً لویه قبیله چې شمیر یې له اووه زره کورنیو نه اوس تېر دی او دلوگر په خروار ،زرمت ، شیوه کیوته نژدې د ساکو په کلي ، د پغمان بیکتوت ، تګاو ، لغمان

(۱) تواریخ خورشید جهان (٦٥-٦٦) مخونه

او د هندوکش په جنوبي دروکې ژوند کوي او دا ټول ددې مغالرې چې د پښتنې ټولنې په جوړولو کې ساک ستره ونډه لري .

## ۳- سامي توکم :

د پښتنو په باب د جهانګير یا چا د دورې نه د مخه هم څه کتابونه لیکل شوي وو لکه تاریخ دولت شیر شاهي ، تاریخ داودي ،د لودي او سوري کورنیو تاریخ او داسې نور . خو په دې برخه کې بشپړ کتاب مخزن افغاني دی چې د جهانګیر د دربار پښنه لیکوونکي خواجه نعمت اله هروي لیکلی دی . په مخزن افغاني کې په پوره تفصیل سره پښتانه له سامي توکم څخه بیول شوي دي .

همدغه نظر بیا وروسته نورو پښتنو مؤرخینو (لکه د افضل خان ختک تاریخ مرصع ، د حافظ رحمت خان خلاصه الانساب ، دزرداد خان ناغر صولت افغاني ، توزک افغاني ، شوکت افغاني ، تواریخ خورشید جهان او حتی په شلمه پیړۍ کې د مرحوم قاضي عطا الله د پښتنو تاریخ کې او دغه شان نورو ) په مد او شد سره تایید کړی ده .

ددوې په اقتفاء څینو بهرنیو مؤرخینو لکه سر ویلیام جونز ، الیکساندر برنس ، میجر راورتي او نورو هم دغه نظر په تایید کړې ده او د پښتنو د نسب سلسله د ساول

ملقب په (طالوت) ته پیل کوي چې دا سړی د حضرت یعقوب (اسراییل) له دولسو زامنو څخه د بن یمین په اولاده کې دی.

دلته د یوه مفصل افسانوي نسب لیک د وړاندې کولو او بیلو بیلو پېښو د یادولو نه وروسته وایي چې د حضرت سلیمان له وفاته وروسته بنی اسراییلو د خدای نه بغاوتونه وکړل، خدای پرې د بابل پاچا بخت نصر مسلط کړ. مغه په یوري سلیم یرغل وکړ. په دې یرغل کې ډیر بنی اسرایل ووژل شول او څه یې یوې او څه بلې خوا ته وتښتیدل. ځینې یې د غور غرونو ته راغلل او دلته میشته شول چې وخت په وخت زیات او وروپه وړو د غور له غرونو څخه کندهار، غزنی، کابل او د هیواد نورو سیمو ته خپاره شول.

دغسې روایتونه په لږ او ډیر تغییر سره په لسګونو تاریخی کتابونو کې په تفصیل سره درج دي.

## د روایتونو منشأ:

دلته د دغسې روایتونو په باب چې په تاریخی کتابونو کې یو له بله څه توپیر، کموالی او زیاتوالی لري مور څه نه وایو او په دې باب هم څه نه وایو چې که د وی د سامي تو کمونو له سیمې څخه د غور غرونو ته راغلل نو پښتو ژبه له کومه شوه: او



ACKU

دغه شان په لسګونو پوښتنې دلته په ځای پرېږدو. يوازې همدومره کوو چې ددغو روايتونو د پيداښت منشاً بايد ولټو له شي. ځکه چې افسانوي روايتونه هم غالباً بې اساسه او بې منشاً نه وي.

ايا واقعاً د غور سيمې ته سامي عناصرو لاره پيدا کړې وه؟

ايا په دغه سيمه کې وروستيو څېړنو د هغوي کوم څرک موندلی دی؟

اوس به ددغو پوښتنو د ځواب په لټيون پسې څه هڅه وکړو.

په غور خصوصاً فروز کوه کې چې د غوري شاهانو پاي تخت و يو لړ لرغونی کتيبې کشف شوي دي چې په عبراني الفباء ليکل شوي او د عبرانيانو په تاريخي موجوديت دلالت کوي.

د غور او هرات تر منځه د ازو (Azaw) په نامه تنګی کې چې د غور او هرات تر منځه د سترو کاروانونو لر غونې لاره ده يوه عبري يهودي کتيبه موجوده ده چې له دعاګانو څخه عبارت ده او د دغې پور نوونکې درې څخه د تيرېدلو په وخت کې به مسافرانو دغه دعاګانې لوستلې. دغه کتيبه بشپړه تحليل او لوستل شوې نه ده خو په هغه سيمه کې د يهودانو تاريخي ادبي نفوذ اثبات ته رسوي. (۱)

همدارنګه د يهودا تو په نامه د ميمنې د ښار تاريخي تسميه په سيمه کې د

(۱) تاريخ افغانستان بعد از اسلام بخش دوم جلد اول (۶۰۷ - ۶۰۸) مخونه

عبرانیت د نفوذ معنا لري .

یوه ایټالوي محقق اندري برینو د (۱۹۶۲) کال د سپتمبر په (۲۸) نیټه د جام جم د منار په خوا او شا کې چې دغه ځای د غور د امپراتورۍ مرکز د فروز کوه سیمه ده په عبري الفبا یوزیات شمیر لیکل شوې ډبرې موندلې دي چې د موندونکي په قول د عبرانیانو د قبرونو تختې دي او د کابل موزیم ته سپارلی شوي دي . (۱)

دغه عبرانیان څوک دي ؟ دوي له کومه شول ؟ ایا دا به د تاجرانو وړوکی ټولګی وي چې د مهاجرو په توګه هلته میشته و ؟ که هغسې وي نو دوي بیا په سیمه کې کوم ادبي او فرهنګي نفوذ نه شي لرلی چې ښه مثال یې زموږ په هیواد کې د اهل هنود و اوسکانو د پیړیو پیړیو استوګنه ده .

زما عقیده ده چې دلته به عبري عناصر ډیر پخوا راوستل شوي وي ، یا به د تجارت او یا مذهبی تبلیغ په غرض او یا هم زموږ د پخوانیو تاریخي کتابونو د روایتونو سره سم د کوم شر نه د پناه غوښتلو په غرض ، دلته راغلي وي چې بیا به همدلته دایمي استوګن شوي وي او د وخت په تیریدو به یې سیمه ییزه ژبه او ګروهه (عقیده) منلې وي . په بل عبارت بیا به پښتانه شوي وي . چې د عبرانیت د تاریخي اهمیت له امله به پښتنو په خپلو روایاتو کې خپل اصالت ورته منسوب کړی وي .

---

(۱) وګوري ، کابل مجله - ۱۳۵ د سرطان ګڼه "د جام د منار په شا او خوا کې د عبراني کتیبو کشف"

زمورد سیمې او د عبرانی نړۍ ترمنځه لاله ډیر پخوا تماسونه موجود وو. دغه راتلونکې تاریخي روایت مونږ ته څو نوي مطالب را په زړه کوي. تاریخ وايي :

د کاسیانو (کاسوانو) په نامه څه خلک د ایرانی پوهانو په قول دزاګرس په غرونو کې اوسنی کرمانشاه ته نژدې او یا د عیلام شمال ته اوسیدل. د ځینو محققینو په عقیده دوي اریایان وو، ځکه چې د دوي لوي رب النوع یا د نمر خدای (سورياش) نومیده چې دا یوه اریایي کلمه ده. دغو خلکو بابل وواهه او هلته یې د خپلې کورنۍ اساس کښیښود چې له (۱۷٦۰ ق م) نه تر (۱۱۸۵ ق م) پورې یې واکمني لرله.

د کاسیانو په وخت کې بابل پر مختګ وکړ او په دې ضمن کې اسونه د ګاډیو په راکښلو باندې په کار واچول شول. عیلامیانو دیر غلونو په اثر په بابل کې د کاسیانو دواکمنۍ لړۍ پرې شوه. (۱) دلته د کاسي کلمه مونږ ته د تاریخ د زمانې ستر واټن باوجود د (کسي) او (کاسي) نومونو را په زړه کوي. علاوه پردې چې د پښتنو د اصلي ټاټوبې (د کسي غر) او بل د پښتنو د یوې سترې څانګې (کاسي پښتانه) نوم دي، په غور کې دا د یوې درې تاریخي نوم هم دی او دلته کیدای شي له دغه نامه سره ارتباط ولري، ممکنه ده په بابل کې وهل شوي کاسیان بیرته خپل ټاټوبي ته راستانه شوي وي او همدلته د پښتنو د عبرانیت د روایت منشأ ګرځیدلې وي.

---

(۱) ایران باستان (۱۲٤-۱۲۵) مخونه

په پاسنی یا دونه کې د لمر پالنه چې د ساکو په مذهبي گروهه کې ژورې ریښې لري همدارنگه د دوی د لوی رب النوع (سورېاش ) کلمه ساک او ( سور ) را په زړه کوي چې دویم یې په خورا لرغونو یا دگارونو کې د سورېن (Suren) په عنوان زیاته ثبت شوې ده او عربو مؤلفینو د (زور ) په لیک دود اخیستې ده زما د اتکل تایید کوي .

په دې باب ځانگړې څیړنه ( دامیر کرور باد ) کې ماوراندې کړې ده چې د ساکو په نمر نمانځنه زیاته رڼا اچوله شوې ده .



ACKU

# د پښتنو د توکم بیل بیل نومونه

پېښتانه :

د پښتنو موجوده ټولنه زما په خیال د اوږدو پیړیو په بهیر کې عموماً له دریو توکو څخه جوړه شوې ده چې ډېر ستر یې سلیمان بل یې ساک او دریم یې ډېر کوچنی عبرانی توکم دی .

د دغې ټولنې وګړي د زمان او مکان د بیلو بیلو شرایطو په رڼا کې د افغان، سلیمانی ، روهی او پښتون په نامه هم یاد شوي او یادیږي . دوي غالباً ځان د پښتون په نامه پیژني . دا هماغه توم دئ چې د یوناني لرغونو مؤرخینو په تاریخي یادونو کې په لږ څه تغییر سره زیات راغلی دی .

د تاریخ پلار هیرودوت په (ق . م ) څلورمه پیړۍ کې د (پختویس —

paxtues، یا (پکتــویس) یا پکتي نوم او دهغــوي ســیـمــې پکتــیکا (Paktika) یا د پختیخا (Paxtixa) په نوم یا دوي چې لومړی دوا‌ړه نومونه په یوناني تلفظ دي . د هیرودوت له یوناني تلفظ اورسم الخط څخه په څرگنده ښکاري چې هغه د (ښبت) په نامه د یوه قوم او د (ښتیخا) په نامه د هغوي د ټاټوبی یا دونه کوي .

بطلیموس هم ضمناً د هغوي یا دونه کوي او د دوي ټاټوبی یعنی (ښتـیخا) د پروپامیزاد په جنوب کې یا دوي . دی د ارا کوزي (ارغنداود حوزې) په تعریف کې وایي چې ارا کوزي له پروپامیزاد څخه ،یعنې له هغې لتې څخه جنوب ته چې باید (پکتـین) یعنې د پکتیا یا نوخاوره ولتیو له شي د پرسوتس (Persuetes) په نامه غر جلا کوي .

هیرودوت کـه څـه هم د پکتیس (پښتنو) ،د هغوي د ټاټوبی ، کـالیو ،دود ، ښارونو او ددوي د مشرانو په باب څولنډې جملې لري ، خو هغه له تاریخي یا ارزښته مفاهیمو څخه ډکې دي او مؤرخینو ته د پښتنو او د هغوي د نورو مربوطو خواو په برخه کې ښه مطلبونه لري . مثلاً لیکي:

(پکتیسـانو له پوستکو څخه کـالی لرل او لیندې او غشي یې د خپلې سیمې په ډول او نـمـونـه وو مـشــــر یې ارتبنت Artynt د ایتـهـا متـر Ithamatr زوي

نومیده ) ( ۱ )

د هیرودوت په لیکنو کې یو بل ټکی هم د پام وړ دئ او هغه دا چې د کسپاتیر (Caspatyre)او د (پښتیخا ) یا (پکتیکا ) د اوسیدونکو رسم او دود د باختر داوسیدونکو رسم او دود ته ورته دی . ( ۲ )

نو دا یقیني ده چې د هیرودوت (پښت ) دغه پښتون او دده پښتیخا د پښتنو ټاټوبی (پښتونخوا )ده چې په جغرافیوي لحاظ نن هم په هماغه سیمه اطلاقیږي ، کومه چې هیرودوت یاده کړې ده چې هغه د سلیمان د غرونو لړۍ او د سپین غره (د اوېستا سپېتا گوناگېري =سپین غر )دواړه خواوې دي .

د لرغونی یونان یوه بل جغرافیه لیکونکي بطلیموس کلاودیوس Ptolemec claudius(دویمه میلادي پیړۍ ) هم د پښتنو هیواد (پکتین ) یاد کړی دی وایي چې پکتین د پروپامیزاد جنوب ته دی . دا ځای د پکتیا یانو ټاټوبی دی . ( ۳ )

لومړی ځل اروپایي پروفیسر لاسین Lassen چې د گرېکو باختري باچایانو تاریخ یې لیکلی دی دا نظر وړاند کړ چې د یونانی لرغونو مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو

---

( ۱ ) تاریخ افغانستان - لومړی ټوک ( ۹۲ ) مخ

( ۲ ) تاریخ افغانستان لومړی ټوک ( ۹۲ ) مخ

( ۳ ) د افغانستان تاریخ لومړی ټوک ( ٤٨ ) مخ

پکتویس اوسنی پښتون دی . همدغه نظر بیا ترومپ Trumpp او گریرسن Grierson هم ومانه .

دوي ددغو لرغونو یونانیانو د پکتویس د جغرافیوي موقعیت او ژبنی تحلیل په رڼا کې داثابته کړه چې د یوناني مؤرخینو پکتویس همدغه پښتون ملت دی . اوس ټول مؤرخین د وېدا پکهت او د یونانی مؤرخینو پکتویس چې یونانی لاحقه لري یو ملت گڼي (۱)

دلته یوه خبره د یادونې وړ ده او هغه داچې :

له ځینو شکاکانو یا دماگوڅانو څخه اورېدل کیږي چې په آریایي ژبو کې داسې ژبنی موارد نشته چې په هغو کې دې د (ک) غږ په (ښ) اوښتی وي ، ځکه نو د (پکت ، پکتویس ) سره د (پښتون ) او پښتونخوا د کلمې سرورکول ایتمولوژیک اساس نه لري .

په دې باب دوه ټکي د یادونې وړ دي :

الف : که ددغو لرغونو یوناني مؤرخینو له پکت ، پخت ، پکتویس څخه پښتون مطلب نه وي هغه به کوم قوم وي ؟ او که هغه به د ځمکې له مخه الوتی وي ؟

---

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک (۴۷-۴۸) مخونه

ب - دلته مهمه دا ده چې د یونانی الفبا تاریخ شاهد دي چې په مغې کې د (ښ) او (ش) غږ نشته

همدا وجه ده کله چې زموږ په سیمه کې د یونانی الفبا نه کار اخیستل شوی دی دلته د (ښ) توري هیڅ په نظر نه راځي او د (ش) له پاره د یونانی د (ر) له توري څخه په څه بدلون سره مثلاً د سره کوتل په کتیبه کې د (کنیشکا) په نامه کې کار اخیستل شوی دئ . په دې صورت کې د (پښتون) په کلمه کې د (ښ) یا (ش) افاده باید په کوم یونانی توري شوي وي ؟

نو لکه څرنګه چې د (کنیشکا) په نامه کې د (ش) افاده په دویمه میلادي پیړۍ کې د (ر) د لږ څه مساعد شوي توري په ذریعه کیدای شي نو په (پښتون) کې د (ښ) افاده ولې لا په څلورمه (ق.م) کې په (ک) او (خ) نه شي کیدای ؟ او که په دغو تورو د ښه افاده و نه شي نو په څه به وشي ؟

پښتون :

د مخه د یونانی مؤرخینو هیرودوت او بطلیموس د (پکتویس) په کلمه باندې څه رڼا واچوله شوه د دغه تورکم نوم د بل هرڅه نه د مخه د اریایانو په لرغونی مذهبی کتاب ویدا (Veda) کې د میلاد نه یوزر او څلور سوه کاله وړاندې د اریایي لسو

د یلو ( شـهانو ) تر منځه د جگړې په تفصیل کې د پکتهه (Paktha) د قبیلې په نامه ذکر شوی دی چې همدغه د دغه توکم ترټولو لرغونی نوم دی . ( ۱ )

د ( پښــــتـــون ) د نامـه ریښـه یقـیناً همـدغـه د ویدا (پکتـهـه) او د لرغـونو یونانی مؤرخینو (پکتویس ) دی چې (وېس) د یونانی ژبې لاحقه ده . د (پښتو ) ریښـه هم دغـه کلمه ده نه بله .

پښتانه خپل ځانونه غالباً په همدغه نامه یادوي خوشحال خټک وایي :

درست پښتون له کندهاره تر اټکه      سره یو د ننگ په کار پټ او اشکار

ځرنگه چې په دې باب د (پکت ) په کلمه نسبتاً زیاته رڼا اچول شوې ده دلته ورنه تیرېږم .

په ریگویدا کې نه یوازې پښـتـون د یوه جنگیـالي قـوم په صـفت یاد شوی دی بلکې ځای په ځای د داسې قومونو نومونه هم پکې ذکر دي چې د زیاتو محقیقینو په نظر هغه د پښتنو قومونه او قبایل دي لکه :

۱ – پني – یوه مشهوره پښتنی قبیله ده

۲ – برېسا (بړیڅ )

۳ – پروته Paravata اپریدي .

---

(۱) د زیات تفصیل له پاره تاریخ افغانستان ج . اول (۸۸ – ۹۰ ) مخونه وگوری .

ACKU

٤ - داسو (داهی ) یا (داسو ) او داسی نور . (۱)

د پښتون د کلمې د ایتمو لوژی په باب یو نظر داسې هم شته چې د ( پښتون ) کلمه له لرغوني اریایي کلمې (پرسوه ، پرسه - Parsava , Parsa ) څخه جوړه ده چې معنا یې غښتلې ، چټک پیاوړی ، اتل ، قهرمان دی . (۲)

د دغه اټکل نسبت ی . ۱ . ګرانتوفسکي (E.A.Grantovesky) ته شوی دی . هغه د پانیني په لیکنو کې د ( پرچوه Parcava ) نامه ته چې ق. م. څلورمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې ثبت شوې ده او د تاریخي (پرسو Parsu) چې د یوه توکم نوم دی د (پښتون ) سره یو شی بللی دی .

دلته باید وویل شي : د هغو لویو ساکو په جمله کې چې د ګریکو باختر دولت یې له پښتو و غور زاوه د پرسیوه او پرسیه (Parsia , Parsiava) نومونه هم لیدل کیږي چې بطلیموس یې په پروپامیزاد کې یادونه کړې ده . همدلته بیلیو د (پسیان Pasian) چې د تارن په عقیده یې کابل ته نفوذ کړی و له نامه سره د پټان کلمې ته سمون ورکوي . البته د بلیو دغه نظر ګرانتوفسکي رد کړی او (پښتون ) په (پرسیه Parsia) کې ګوري . (۳)

---

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک (۲۲) مخ

(۲) (دپاکستان اولسونه) - (۱۳۰-۱) مخ

(۳) د افغانستان تاریخ - لومړی ټوک (۲۸) مخ

دغه اشتقاق که څه هم د (پرس = پوښتنه) په څېر لفظي بدلون مور ته را په زړه کوي، خو د ایتیمولوژۍ نور کوم منلي اساسونه نه لري ایتیمولوژیک اساس یې هماغه د وېدا پکته، د یونانی مؤرخینو پکتویس دي.

## افغان:

د پښتون نه وروسته د دغه توکم له پاره (افغان) نوم ډېر لرغونی دی. دغه نوم، د هند، فارس، چین او هم د هیواد په لرغونو اثاروکې ډېر راغلی دی.

په فارسي مأخذونو کې:

د شلمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې د شیکاګو د ختیځ پېژندنې د موسسې د لرغون پېژندونکو له خوا د شیراز په نقش رستم کې په دووژبو (پارتیانې او یونانې) یوه کتیبه وموندله شوه چې هغه د ساساني کورنۍ دوم پادشاه لومړي شاپور په وخت کې لیکل شوې ده او د لیکلو نیټه یې د میلادي (۲٦۰) نه تر (۲۷۳م) اټکل شوې ده.

د دغې کتیبې په شپږمه برخه کې د شاپور درجالو په جمله کې ګوندي فرایګان رېسموود (Goundifer Abgan Rismoud) راغلی دی.

دلته زیاتو محققینو د (ابگان -Abgan) کلمې ته د (افغان) سره سمون ورکړی دی .

مثلاً یوه محقق سپرینګ لېنګ Sprengleng د امریکا په یوه سامی مجله کې په (۱۹٤۰) کال کې یوه مقاله خپره کړې وه او په هغې کې یې دغه (ابگان) له افغان سره پوښی بللی دی . دغه محقق زیاته کړې ده چې د ساساني دریم بادشاه شاپور لقب او صفت (اپه گان - Apagan) هم له همدغې نوعې څخه دی چې د زړور توب، میړانې او یا د نسبي رشتې له امله را وړل شوی دی .

دی د پورتني عبارت معنا داسې اخلي : (وینده قرن - افغان د جنګ سالار)

په دې باب د پروفیسر سپرینګ لېنګ خپل عبارت داسې دی : (د ابگان او اوگان) له پاره له معاصر افغان نه پرته لیکونکی کومه بله بهتره کلمه نه شي لټولی . (۱)

انګریزي مؤرخ و. کیرو هم ورته نظر ښکاره کړی دی او زیاتوي چې له (اوگان - Avgan) او (ابگان - Abgan) څخه افغان ته سېړا او انتقال طبیعي ښکاري . (۲)

نو موړی مؤرخ لیکي :دا څرګنده نه ده چې د افغان کلمه لومړی ځل کله منځ ته راغلې ده خو بیا هم دا کفایت کوي چې د لومړی شاپور د نقش رستم په کتیبه کې په

---

(۱) اریانا مجله د ۱۳٤۸ کال دریمه گڼه د پوهاند حبیبی لیکنه

(۲) - (۳) - (افغان افغانستان -داکتر .ج. کاکړ قلمی کتاب (۱۹) مخ

يقيني ډول څرګنده شوې ده .

د فردوسي په شاهنامه کې د فريدون د عصر سرلښکر (اوګان ) بلل شوی دی :

سپهد ارچون قارن کاوګان     سپه کش چو شيزوي و چون اوګان

همدارنګه بل ځاي :

سپهدار چون قارن کاوګان     به پيش سپـاه اندرو ن اوګـــــان

دغه ( اوګان ) که څه هم ځينو (اوه ) ته منسوب کړی دی خو د ساساني عصر (اپګان ،ابګان ) ته زيات ورته والی لري .

که د ساساني عصر (اپګان ،اوګان ) ته اعتبار ورکړو ، نو په هغه صورت کې به دا ډير لرغوني سندوي چې دغه نوم پکې ذکر شوی او د ميلادي دريمې پيړۍ نه را وروسته د استعمال مورد دی .

په هندي منابعو کې :

دغه شـــان يو بل هندي سند هم لرغــوني دی چې د (افـغـــان ) نوم (اوه ګـــانه Avagana ) په فورم پکې خوندي دی .

يو هندی شاعر او منجم (ورها مهيرا Varha Mihira )چې د پنځمې ميلادي پيړۍ په پای کې د هند په را چين کې زيږيدلی او د شپږمې ميلادي پيړۍ په سر کې

شهرت ته رسیدلی دی د نجوم په باب یو منظوم کتاب لري ، د کتاب نوم یې (بهریته سنهیته - Bahrita Sanhita ) دی او په هغه کې د هند د جغرافیې او د نورو ډیرو قومونو په باب یادونې درج دی . د دغه منظوم کتاب په ( ۱۱-۱٦-۳۱ ) بیتونو کې (اوه گانه =Avagana )راغلی . ( ۱ )

دا دیوه اولس ( یا اولسونو ) نوم دی چې غالباً د هند د نیمې وچې په شمال لویدیځه پوله کې استوگن وو . ( ۲ )

هندي پوهان وایي چې یو تو کم زموږ په هیواد کې له لرغونو زمانو څخه د (اپگان Apagan )په نامه مشهور و (۳)چې بیا همدغه نوم دورهامهیرا په اشعارو کې د (اپگانه ) په نامه راغلی دی ، هلته یو ځای لیکي :

( . . . د کښتو ( ٤ ) په اثر غرنی کلک پهلویان ، سپین هونان ، چولان ، اوگانه Avagana سارایان ، چینایان او همدارنگه بدای سرانښد هوډ پالي او د کار خلک استوگنه کوي . . . )

---

( ۱ )اریانامجله د ۱۳٤۸ کال دریمه گڼه

( ۲ )د پاکستان اولسونه ( ۱۳۰ )مخ

( ۳ ) دافغانستان تاریخ -لومړی ټوک ( ۲۱۱-۲۱۲ )مخونه

( ٤ )دافسانوي شامارلکی چې په خپل وخت لر او سپوږمی نغړی (دهغو د تندرنیو لو علت شوی )د لکی لرونکی ستوری معنا هم لري .

دغه کتاب په بل ځای کې افغان داسې یاد شوی دی : (...لکیوال ستوری چې سرېې له شهاب ثاقب (اسماني ډبره ) سره لګیږي په زړه پورې دی . لا په زړه پورې یې هغه دی چې یاران راولی خوهغه دچوله او ګانه سپین هون او چینې ته خوښیږي ) (۱)

په چیني منابعو کې :

په لرغونو چیني منابعو کې هم دافغان کلمه د چیني ژبې په معمول نا څرګند تلفظ ساتل شوې ده . د میلادي (۶۲۹) کال د اګست په میاشت کې مشهور چیني زایرهیون تسنګ د هند د شمال لویدیځو سیمو له کتلو وروسته زمونږ د هیواد ختیځو سیموته راغلی و او دلته یې د (فه- له نه fa-la-na- بنو) له لیدلو وروسته (ا-پو -کان a-po-kan) (۲) نومي هیواد نوم یاد کړی دی. دغه هیواد د (فه-له نه = بنو ) او (جګوده jaguda=زابلستان ) تر منځه پروت دی . (۳)

(۱) دافغانستان تاریخ دویم ټوک (۲۱۲) مخ

(۲) دا نوم په ډول ډول : (ا-ب-و ګیان a,b,uo,gian)(ا-پو-کان A,po,kan)(ا-پ-و-کین a,p,o,ken)او داسې نورو تعبیر شوی دی.

(۳) د پاکستان اولسونه (۱۳۱) مخ

د هیون تسنک د پادښونو له مخې نوموړی له خپلو ملګرو سره له هند څخه چین ته د ستنیدلو په لاره کې د (فه- له- نه= بنو) د هیواد په شمال لویدیځ کې تیر شوی او د (اپوکان) په (پاچاهي) کې تم شوی دی . بیا له هغه ځایه په هماغه شمال لویدیځ لورې وړاندې تللی او دلرغونی اراخوزیا ولایت جګوده (زابلستان) ته رسیدلی دی .

په تورو چیني منابعو کې همدومره خبرو رکول کیږي چې هیون تسنک د (فه-له-نه-) له هیواده تیر شو او د شمال لویدیځ په لورې مخ په وړاندې لاړ ، په لوړو غرونو واوښت او په پراخو درو تېر شو او اراخوزیا ته ورسېد (۱)

دغه چیني زایر د (اپوکان) ژبه هندي ژبو ته ورته بللې ده چې هغه یقیناً پښتو ده . او دغه چیني (اپوکان) کټ مټ د لرغوني (اوه کان) هیجا لري چې هغه حتماً او بې له کومه تردیده (افغان) دی . هغه سیمه چې دغه زایر د نوموړي (اپوکان) له پاره مشخصه کړې ده د سلیمان له غرونو سره سمون لري . (۲)

په اسلامي عصر کې :

د اسلامي عصر د لومړیو دریو پیړیو په عربي اثارو کې د افغان ، افغانستان د

(۱) د افغانستان تاریخ - لومړی ټوک ۲۱۱ مخ

(۲) د پاکستان اولسونه (۱۳۱) مخ

نومونو په باب کوم اسناد په لاس کې نه لرو، علت یې هم شایي داوي چې لا په دغو پیړیو کې عربو مؤلفینو ته پښتانه پوره ځرګند نه وو.

د فارس له نیولو وروسته د معاصر افغانستان په خاوره د عربو فاتحینو یرغلونه پیل شول او په (٦٥٤ م) کې یې هرات او سیستان ونیول. همدارنګه په تخارستان او کابل هم بریدونه پیل شول او تر ٦٦٠ م خراسان ونیول شو خو د غزنی او کابل په ناوه او هندوکش په جنوبي برخو کې فاتحین د پښتنو د سخت مقاومت سره مخامخ شول لوی علت یې دا و چې په دغه سیمه کې د لومړی کمون د پیاوړي عشیروي کورنی بقایا ټینګ پاتې وو، ټولنه لا نه وه شیندل شوې او د عربو په مقابل کې یو موټې قوت موجود و. خو په خراسان کې د دغو فاتحینو په مقابل کې فیوډالان ولاړ وو. بله دا چې د پښتنو سیمې لکه غور او د سلیمان غرونه سختې وې، پښتانه که په نورو سیمو کې هم وو البته د غو سیمو ته راټول او دلته متمرکز شول، د سیمو سختوالی یا د اوسیدونکو د سخت مقاومت له امله د غه سیمې (د سلیمان غرونه او غور) د عربو له نفوذه خوندي او سرپټې پاتې شوې. البته د جنوب له خوا عرب د پښتنو سیمو ته نژدې شوي وو، د سند سیمه د بحر له خوا خلیفه ولید (٧٠٥-٧١٥) نیولې وه او د نفوذ لمنه یې تر ملتانه غزیدلې وه، خود پښتنو غربي سیمې خوندي پاتې وې او د سلیمان د غرونو پښتنو لا په لسمه میلادي پیړۍ کې هم اسلام نه و راوړی او په دغه

توګه د اسلامي عصر په لومړیو پیړیو کې د پښتنو سیمې ته عربو نفوذ نه درلود او ددوي یادونه هم ددوي په اثاروکې نشته. (۱)

د لسمې پیړۍ په عربي کتابونو کې د افغان او افغانستان د نامه د لټون لومړی هلې ځلې و . و . مینورسکي کړی دی .

دی وایي د المسعودي په (کتاب التنبیه والاشراف ) کې کیدای شي چې (ابغان = ابغان = افغان )ولوستل شي او دابه په عربي اثارو کې د افغان ترټولو لومړی ذکر وي - (۲) البته د افغان له پاره په معربه توګه د (ابغان ) کلمه د استعمال ځای درلود او دا خبره په ځای ده چې باید (ابغان ) ولوستل شي ځکه چې په کلاسیکو عربي تألیفاتو کې سابقه لري د مثال په توګه په (الکامل فی التاریخ ۶۲۸ هـ . ق) کې عزالدین ابوالحسن ابن اثیر الجزري یو ځای لیکي : (الکرمان مدینته بین غزنه ونهاور . . . و سکانها کال یقال لهم ابغان ) . (۳)

تر اوسه داسې ګڼله کیده چې د عربي اثارو په جمله کې د افغان نوم په یقیني ډول لومړی ځل په حدود العالم کې دوه ځایه راغلی دی . ددغه کتاب مؤلف څرګند نه دی

---

(۱) دافغانستان تاریخ - لومړی توک (۲۳۵) مخ

(۲) حدود العالم (۱۶) مخ

(۳) دوږمی مجله ۱۳۵۲ کال دریمه ګڼه د پوهاند رشاد مقاله

خو د تالیف کال یې (۳۷۲ هـ . ق ) دی هلته یو ځای لیکي :

گردیز د غزني او هندوستان تر منځه یو ښار دی . . . اوسېدونکي یې خوارج دي . سول (ساول) یو نعمت لرونکی کلی دی د غره د پاسه او په هغه کې افغانان دي (۱)

بنهار یو ځای دی پاچا یې ځان مسلمان بولي او د مسلمانانو او افغانانو او له هندوانو څخه له دېرشو څخه زیاتې ښځې لري او نور خلک یې بت پرستان دي .

همدا وجه ده چې برتولد د خپل کتاب په مقدمه کې لیکي چې دا د تعجب ځای دی چې په حدود العالم کې د افغانانو یادونه راغلې ده ،ځکه تر دغو وروستیو وختو پورې گومان کېده چې عقبی لومړنی لیکوال دی چې دغه نوم (الافغانیه ) یې ذکر کړی دی . (۲ )

دلته (بنهار ) د مېنورسکي په اټکل کیدای شي نینهار یعنې ننگرهار وي خو دغه نظر سم نه ښکاري چې مطلب ورنه د (بنو ) سیمه ده چې لرغونی نوم یې ورنه (Varana )دی او له منځنیو پېړیو څخه په جغرافیوي اثارو کې په همدغه نامه (بنو ) شهرت لري .

---

(۱) - (۲ )حدودالعالم (۱٦)الف مخ

## پټان یا پټهان :

د هند په نیمه وچه کې د پښتون له پاره (پټهان) او د پښتنې له پاره (پټهانې) ویل کېږي . د پټهان کلمه د پښتانه له پاره په هندي متونو کې غالباً اته سوه کاله د مخه د (پرتهی رآج راسا) په اتم داستان کې چې (مهواتي منگل کنها) نومېږي او په یوولسم داستان کې چې (سلکهه جدهه) نومېږي راغلې ده .

په دیارلسم داستان کې شاعر د پټان نوم داسې راوړی دی :

(د سلکهه په جنگ کې اووه لس زره پټهانان د سلطان شهاب الدین غوري (۵۸۷-۶۰۲ هـ ق) مله وو . )

تر دې وروسته د پټهان کلمه د سکانو د دین لار ښوونکي گرونانک (۸۷٤-۹٤۶ هـ . ق) په (جنم ساکهي) کې لیدله کېږي . په دغه کتاب کې د گرونانک له خولې دا بیت لیکل شوی دی :

متاتهو کی زمین پرسن اوډی اسمان

گهوړی کندهار خرېد کری دولت خان پټهان (۱)

د پټهان کلمې د یولسمې هجري پېړۍ په لومړیو کلونو کې پښتنې متونو ته هم

(۱) وړمه

لاروموندلهاو ترټولو د مخه دهغې څرک د میرزا خان انصاري په دیوان کې لیدل کیږي :

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

دمیرزا وینا په څهاوری پټهانه ( ددیوان ۱٤۰ مخ )

دهمدغې پیړی په منځنیو کلونو کې خوشحال خان هم داسې استعمال کړې ده

مهر دې له دله لکه موي له مخه ورک شو

راپښه ناترسې لو رد ترک که د پټهان یې

په تاریخ مرصع کې د پښتنو افسانوي تیکه(کېس) قیس عبدالرشید څو ځایه د پټان په لقب یاد شوی دی .

## پټهان د تسمیې وجه :

د پټهان کلمه په یو ولسمه هجري پیړی کې د هندوستان په عوامو کې دومره عامه شوې وه چې لا هغه وخت یې خواجه نعمت اله هروی او د سامانی او سیدونکي هیبت خان کاکړ دې ته اړ کړل چې هغه عربی الاصله : بطان = د بیړی د بنسټ تخته چې نوره بیړی د هغې له پاسه جوړیږي ، وبولي .

خواجه‌نعمت‌اله په‌مخزن‌افغانی ( ۱۰۲۰ تالیف ) کې د کسی د غره (د سلیمان غره ) اوسیدونکی قیس (کیس )او د هغه‌د اوو‌یا و ملگرو افسانوي پیښه یا دوي چې گوندې په یوه غزا کې یې ښه میړانه څرگنده کړې وه‌او د هغه‌له‌مخې دوي ته‌د حضرت‌پیغمبر (ص) له‌خوا (د اسلام‌بطان ) لقب‌ورکړ شوی و‌او بیا وروسته‌له دغی عربی کلمې څخه‌پټان‌او پټهان پښتو شوې‌او هندي‌شوې کلمې منځ ته‌راغلی (۱) د نعمت‌اله‌هروی دغه‌عامیانه‌اشتقاق‌بیا د پښتنو د نسب‌د افسانې په‌څیر په ډیرو وروستیو اثارو کې منعکس‌شوی دئ‌لکه : د ابراهیم‌بیټني په‌تاریخ‌ابراهیمي کې ، د خوشحال‌خټک په‌دستارنامه‌کې ،د افضل‌خان‌خټک په‌تاریخ مرصع (۵۲ مخ) د حافظ رحمت‌خان‌بړیڅي (۱۱۲۰ -۱۱۸۸ ) په‌خلاصه‌الانساب(۲۶ مخ - د پیښور چاپ ) کې‌د مفتي‌ولی‌اله‌فرخ‌ابادي ( په ۱۲٤۹ - هـ . ق . کی مړ ) په عهدبنگش (۲۱ مخ ) کې ،د شېر محمد خان‌گنډا پور په‌تواریخ‌خورشید جهان

(٦۱ مخ ) کې ، دوولاف کیرو د‌پټانز مقدمې په (۲۹ ) مخ او په‌داسی نورو کې

. خوشحال‌خټک پښتنو ته‌د پټهان‌د لقب‌ورکول‌د سلطان‌محمود غزنوي‌له‌خوا ولي.د‌دستارنامې په‌دویم فصل‌او نهم‌باب (هنر د تحقیق په‌نسب ) کې‌لیکلی دي :

(د پټهان‌خطاب اول‌سبکتگین‌چې‌د غزنی پاچاهان‌وو هغو (پښتنو ) ته‌ورکړی

---

(۱)وږمه‌د پوهاند رشاد مقاله

دی.

د سومنات په غزا کې چې گجرات لره سلطان محمود راغلی و پښتون ډېر مښود وکړ. سلطان ورته ووې چې دا زما د لښکر پټان دی. پټان بولرگی دی چې جهاز په هغه مرتبکیږي).(۱)

سلطان محمد خان په تاریخ سلطانی (۱۸ مخ) کې او ډېټی حیات خان په حیات افغانی (۱۰۰مخ) کې دغه عامیانه اشتقاق نه دی منلی

د پښتانه د تاریخ په رڼا کې مؤلف ظفر کاکا خېل هم د پټان له پاره دغه توجبه نه ده منلی همدارنگه دوست محمد کامل د تاریخ مرصع په پابځور (ضمیمه) کې هغه رده کړېې ده. دي وایی (که د دغه خطاب بطان) له امله د پښتنو نوم پټان وای نو هغوی به هم ځان په دغه نامه یاداوه، حال دا چې د کیس (نیکه) نه تراوسه دوي ځان ته پټان نه وایي، بلکی د هند د نیمې وچې غیر پښتانه یې په دې نامه یادوي (۲) د پټان د کلمې په باب ځینی نور توجبهات هم ځینو کسانو کړی دي لکه:

د هند یو مورخ استرابادی محمد قاسم هندوشاه (فرشته) د تاریخ فرشته په لومړی مقاله کې لیکلي دي:

---

(۱) دستارنامه د پښتو ټولنې چاپ (۸۵) مخ

(۲) تاریخ مرصع (۹۱٦) مخ

( د هندوستان خلک پښتنو ته پټهان وايي د تسمیې وجه يې نه ده معلومه ، خو زما په خیال په شمالي هندوستان باندې د پښتنو د پاچهۍ په شروع کې چې لومړی ځل پښتانه هندوستان ته راغلل په پيټنه کې يې واړول (۱) ځکه نو د هند د خلکو دوی د پټان په نامه ويلل ) . (۲)

محمد حیات خان په حیات افغاني کې ددغې تسمیې په باب توجیه کوي :

( کیدای شي د پټهان د کلمې اصل ( پټ - ان ) ( پټه - ان ) وي چې د بېواکه کولو په معنا دي . پښتنو هم د سېمې خلک بېواکه کړي وو . سند هه ساگر په دوا به کې ( پټنا ) اوس هم بېواکه کولو ته وايي او د هندوستان خلکو هغه وخت پښتانه په دغه نامه ياد کړل چې له لوېديځه شخه هندوستان ته راغلل او د پټنې د اوسیدونکو د قدرت ونه يې له بيخه وکښله ) . (۳)

يو بل مورخ د . ابېټ سن D. Ebbetson په ( پنجاب کاستونه ) کې د پارتيانو د تاريخي قدرت يادونه کوي اوپټان د پارتيان اوښتي شکل گڼي .

په دې باب د نامتو ختيځ پوه دارمستتر نظریه هم دیا دونې وړده

---

(۱) پيټنه په شمال شرقي هند کې د بهار د ولایت مرکز دی . پخوانی نوم يې پاټلي پترا و .

(۲) تاريخ فرشته (۲۹) مخ

(۳) حیات افغانی - پښتو ترجمه (۱۹۰) مخ

دی لیکي :

(هغه ملت چې ایرانیان ېې افغان بولی دوی پخپله ځان پښترن بولی چې جمع یې پښتانه راځی - له دغې (پښتانه) کلمې څخه هندیانو د پتان کلمه جوړه کړې ده ځکه چې دسانسکریت (شته Shta) . په براکریت کې په (ته- Tha) اوړی )(۱)

پوهاند رشاد هم په خپله مقاله کې د همدغه نظر ملاتړ کړی او له (پښتانه) څخه یې په هندی ژبو کې د (پټهان) د جوړولو قانونی لاره څېړلې ده چې په دې باب ددوی څېړنه زښت ډیر علمي ارزښت لري .

د پټهان له کلمې نه ناوړه استعماري استفاده :

تر دغه ځایه وښوول شوه چې پښتون ،افغان او پټان د یوه توکم بیل بیل نومونه دي چې غالبآد فارسي ژبو (او عربی مؤلفینو ) له خوا د افغان ، د هندی ژبو له خوا د پټهان اوخپله د پښتنو له خواد پښتون په نامه یاد شوی دی او دغه نومونه هیڅ ډول سیاسی ملحوظ نه لري . خوانګریزي استعمار چې د پښتنو د بدن یوه لویه ټوټه یې بیله کړه او هغه یې د برتانوي هند پورې وتړله د هغې د نومولو له پاره یې د پټهان له کلمې څخه سیاسی ناوړه او غیر علمي استفاده وکړه . دوی کوشش وکړ چې د

(۱) د دارمستتر پښتو څېړنې

ACKU

افغانستان اوسیدونکی پښتانه په همدغه نامه او یو تو کم وبولی او بیل کړای شوی پښتانه بل توکم او هغه د پټان په نامه وبولي .

له دغسي مؤلفینو څخه یو هم هانری والتر بیلیو (H.W.Bellew) دی چې پر نورو کتابونو بر سیره چې the raees of Afghanistan په نامه په (۱۸۸۰) کې یو کتاب لیکلی او د هغه د شپږم فصل په سر کې داسي عبارت لري :

(د پټهان کلمه هندوستانیان په عام ډول کاروي او د افغانستان هر اوسیدونکی ته که څه هم تاجک او هزاره وي پټهان وايي ، خو پښتانه دا کلمه یوازې د هغه چا له پاره استعمالوي چې سورني ژبه یې پښتو وي . د دوی دې خبرې ته هیڅ پام نه وي چې افغان او غلزی پټهانان نه دي - ټولو پښتنو ته پټهان وېل داسي ښکاري لکه د ایرلینډ اوسیدونکو ، د سکاټلینډ اوسیدونکو او د ویلز اوسیدونکو ته چې څوک انګریز ووایي ) دی د افغانستان پښتانه د افغان او بیل کړل شوي پښتانه د پټان په نامه یادوي . بیلیو کوشش کړی دی خپل دغه ناوړه غرض ته د علمي رنګ د ورکولو له پاره د یوناني مؤرخ هیرودوت (٤٨٤-٤٢٥-ق . م ) په روایاتو کې د پختیا او پختیکا له نومونو څخه ناوړه استفاده وکړي . هیرودوت په پختیکا کې د څلورو قبیلو Sttagydae, Dadicae, Candari ,Aparati نومونه

ACKU

اخیستی دی . بیلیو چې Aparati اپرېدي Sttagydae ختیـــــــک

Dadicae دکاکړو (دادی ) (۱) بللی دی او د کندهاری کلمې د تاوېل په تور کې

یې هره هغه پښتنه قبیله داخله کړې ده چې د برتانوي استعمار په غصبه کړې خاوره

کې میشنه وه .خو د بلې خوا بیلیو د خپل همدغه کتاب په ( ۷۵ ) مخ کې د هیرودوت

د پکتیا نا کلمې اوسنی شکل پښتون (Paxtun) او په (٥٦ ) مخ کې یې د پټان

کلمه د پښتانه د کلمې هندي شوی شکل بللی دی . او داېې هم زیاته کړې ده چې د

Pactya (پښتونخوا ) هراوسیدونکی چې مورنی ژبه یې پښتو وي پښتون دی .

بیلیو ددې له پاره چې پیښور د سیمو اوسیدونکی پښتانه یوسفزی ، مندړ او

مومند د پټهان د کلمې د استعماري تور څخه ونه وځي نو یې ددغه کتاب په (۶۱

مخ کې داسې تاوېل ته لاس اچولی دی :

( یوسفزی ، مندړ او مومند د پخوانی گندهارا (د پیښور ناوې ) اوسیدونکې

او په هغـــو گندهاریانو کـــې راځي چې هیـــرودوت یاد کـــړی دی .

په پنځمه او شپږ مه عیسوي پیړیو کې د شمال له لوری څخه سبتی ( Sythy-

ساکو ) قـــام راغی او دوي یې داوسنـــی کندهار سیـــمو ته پورې وهـــل او

هلتــــه د ارغنداو او هلمند په ناوو کـــــې له افـــــغـــانانو

---

(۱) په کاکړو کې په دغه نامه کومه پښه نشته .

سره میشته شول(۱) او په پنځلسمه پیړۍ کې دغه له پخوانی ګندهارا څخه لیږدېدلی قبیلې (یوسفزی، مندړ، او مومند) بیرته خپلې پلارنۍ مېنې پېښور شاو خواته را ستنې شوې او له زړو کلونو وروسته یې بیا له خپلو پټهانو ورونو سره ژوند شروع کړ).

د انګریز نورو استعماري لیکوالو هم د بیلیو په شان په دغه کړه لاره کې کاږه ګامونه ایښې دي چې د هغو په جمله کې یو هم جارج سکاټ G.B.Scatt دی. نوموړی هم د پښتنو په باب ډېر خواره واره معلومات د افغان او پټهان (Afghan and Pathan) په نامه کتاب کې په (۱۹۲۹) کال په لندن کې چاپ کړی دی. په دغه کتاب کې یې پښتانه په بني اسرایېلو او نا بني اسرایېلو ویشلي دي. دده په ژبه افغانان بني اسراییل دي او پټهانان بني اسراییل نه دي. مثلاً د خپل دغه کتاب په (۱۹) مخ کې لیکي: (د چګدلک څخه تر خیبره غلزي، خوګیاني او شینواري اوسي. دوي ځانونه بني اسراییل بولي. تر دوي وروسته د سپین غره په درو کې اپریدي، ورکزي او زیمخت میشته دي (۲) دغه دری قبیلې په نسلي لحاظ بني اسراییل نه دي.

(۱) د افغانستان د پخوانی تاریخ د لومړی توک په (۱۲۱) مخ کې هم د ګندهارا له لرغونی سیمې څخه په پنځمه او شپږمه عیسوي پیړیو کې د اوسنی کندهار خوا ته د ګندهار بومهاجرت راغلی دی.

(۲) زیمخت پښتانه د زواغره او کوز مي ترمنځ میشته دی مخران خیل یې لویدیځ او ماموزی یې ختیځ لور ته میشته دی.

نوموړی جارج سکاټ په خپله خاصه ژبه د یوسفزیو په باب لیکي:

(یوسفزی اصلاً پټانان دي ، خو دوي ځانونه لکه افغانان له بني اسرایلو څخه شمیري ) ( ۱ )

ددغسې مغرضو لیکوالو په جمله کې د سراولف کیرو (Sir olaf Cairo) نوم د خاصې یادونې وړ دی . دغه سړی د پیښور تر ټولو وروستی انګریزي ګورنر (۱۹٤٦-۱۹٤۷) او تقریباً دیرش کاله دلته د انګریزانو بو باوري مامور و . دده یو مشهور اثر (the pathan) نومیږي چې په (۱۹۵۸) کال په لندن کې چاپ شوی دی . دغه انګریز هم کوشش کړی دی چې د پښتانه یو وجود د افغان او پټهان په نامه سره دوه ټوټې کړي . ددغه کتاب دارد و ترجمې په (٤٨) مخ کې نوموړی په صراحت سره لیکلی دي چې (افغانان او پټهان له یوه توکمه نه دی ) .

دی پښتانه داسې ویشي چې ابدالی (درانی ) او غلزی د (لویدیځ افغان ) په نامه یادوي . یوسفزي او د پیښور په شاو خواکی پرتې پښتنې قبیلې د (ختیځ افغان ) په نامه بولی . دده په ژبه ددغو لویدیځو او ختیځو افغانانو تر منځه پرتې کرلانې قبیلې لکه : اپریدي ، ختیک ، ورکزي ،بنګښ ، وزیر ، مسود ، توري ، د (پټهان )په نامه یادوي . او دغور غښتو پښتنو (لکه کاکړ ، موسی خیل ،شیرانیو ، پنو ، ګډون،

---

( ۱ )د جارج سکاټ دکتاب ( ۷۵ )مخ

منډو خېلو، ناغرو ... ) په باب کومه صريحه پرېکړه نه لري . ( ۱ )

همدغه له غرضه ډکه غير علمي پاليسي د نورو انګرېزي ليکوالو په آثارو کې هم ليدله کېږي او داسې ښکاري چې ځينو مؤرخينو چې په خپلو ليکنو کې يې له انګرېزي منابعو استفاده کړې وی په شعوري او يا لا شعوري ډول د انګرېزانو ددغې پاليسي د اغېزې لاندې راغلي دي . چې يو ډېر ښه مثال يې د (افغانستان ) په نامه د م . ا . رسنر کتاب دی چې د برتانوي استعمار په تور کې ښکيل پښتانه يې د پټهان په نامه ياد کړي دي . دا موضوع ردولو ته ضرورت نه لري چې ګوندي پښتون او پټهان بيل بيل قومونه دي . په پښتنو باندې د انګرېز د استعمار له ختمه وروسته که څه هم ددغې موضوع ځينې پاتې شونې د انګرېزي ليکوالو په آثارو کې ليدل کېږي لکه the pathan and Afghan -G.W .Spina په نامه يې په لندن کې چاپ کړی دي . خو په عمومي صورت اوس دغه غلطي خپله انګرېزانو هم رفع کړې دي . مثلاً د برتانيا انسايکلوپيد يا ليکلي :

پټهان د پښتون د کلمې بل شکل دی . د پښتانه معنا پښتو ويونکی دي چې په دواړو لهجو شامل دي . ( ۲ )

---

( ۱ ) د پټهان مقدمه ( ۶ - ۷ ) مخونه وګورئ - تر دغه ځايه د پټهان په برخه کې د محترم پوهاند رشاد مقالې څخه چې د ۱۳۵٤ د ووږمی د مجلې په دريمه ګڼه کې خپره شوې استفاده شوی ده .

( ۲ ) د برتانيې انسايکلوپيډيا - ۱۷ ټوک ( ۳۷۷ ) مخ

ACKU

## رود ، روهیلی ، روهیله :

د پښتون ، افغان او پټهان په څنګ کې روهیله، روهیلي ،روهاني او ددوي سیمه پښتونخوا د (روه ) په نامه هم ډیرزیاتـه یاده شوې ده . البته روه د همدغې سیمې په معنا او (لـه‌لی) د پایله (۱) څنګه=(څنګ -لـه ) ګرد لـه... په څیر بو (وروستاړی ) دی چې د نسبت معنا ورکوی . د پښتنو له پاره دغه نوم چې د افغانستان او هند په تاریخ او ادبیاتو کې زیات استعمال شوی دی د سرالف کیرو په وینا د ملتان او دیره جاتو جټهان ، بلوچان ، او نور یې اوس هم د سلیمان غره ته چې ددوی ځمکو ته ددیوال غونډې ښکاری روه وایي . دلته دا ټکی هم ٭ یادونې وړدی چې د پنجابي په جنوبي لویدیځه لهجه کې (روه ) د غره معنا لری . څرنګه چې (روه ) د غره په معنا په پښتو او د پښتنو په تاریخ کې لرغونې سابقه‌لری نو ویلی شو چې دغه کلمه بـه د غزنویانو په وخت کې د هند خوا ته د پښتنو د سیاسی او کلتوری سلطې سره سمه رسیدلې وي .

---

(۱) پایله یوه پښتو کلمه ده چې د (پای‌زیب ) معنا لری . ځینی پښتانه (لکه د شولګراو مقرخلک) یې (پایل) بولی د پښتو په کلاسیک ادب کې زیاته راغلې ده لکه :مرصع باهو په لاس ګوتی په ګوتو - ژرنګهار یې د پایلو . د څرې د خوشحال خټک خفتګان به د قالین به رقص ګډ شی ، که ترغوږ یې د پایلو نری شرنګ وی (عبدالقادر)

د رود د کلمې لرغونتیا :

دروه کلمه هم د افغان د کلمې په څیر ډیره لرغونې ده . داسې اټکل کیږي چې په اویستاکې د اوروه (urva) کلمه چې د افغانستان او د منځنۍ اسیا د (۱٦) سیمو په جمله کې د یوې سیمې نوم دی هغه به همدا (روه )وی چې د سیریمه (سلیمان ) مترادفه به وي .

د اویستا په یوه برخه (وېندیدات) کې د ښواو بدو سیمو د پنځ (پیدا ښېت) په باب اهورا مزدا زردشت ته وایي چې هغه اته ښې لتې (اریانا وېجو، گاوا (سوغد) ، مروه د لوړو بېرغونو سره بلخ ، نسایې چې د بلخ او مروې تر منځه پرته، هرات ، واېکرته (کابل) او په مرغو بډای او روه urvaما پیدا کړې دی او پدې سیمې یې (ساکتی د ساکو د کومې قبیلې زمکه ) مرد او ساد ددرېیکانو زمکه (دادساکو یوه ستره قبیله وه چې کورش کبیر یې له خپله لویه لښکر سره تباه کړی و ) او داسې نورې بدې لتې او ناوړه شیان اهریمن پیدا کړي دي . (۱)

که څه هم ددغو نومونو په تطبیق کې د پوهانو تر منځ اختلاف شته . خو د لفظي قرابت او په مرغو د بډای د ا حقیقت ته نژدی ښکاری چې دادې د مالدارو پښتنو له وښو ډک سیمه (روه) وی ځکه چې د اویستا ټول جغ[illegible] سوی نومونه

---

(۱) اریانی مقدماتی فیلولوژی (۵۸-۵۹) مخونه

د افغانستان او هغه ته دراخېرمه سيموپورې اړه لري . نو (اروه ) باېد همدلته ولټول شي نو د لفظي شباهت او د سيمې د صفت (له وښوډ ک ) څخه ځرګنديږي چې دا په روه وی او بس دادی زما اټکل . په هندی منابعو کې هم دروه کلمه لرغونی سابقه لري . دسانسکرېټ د مشهور ګرامر پوه پا ننيي ( ۳۵۰ ق.م) په اوو وېناو (ashta dhyay) کې درو هيتا ګيری کلمه راغلی ده . نوموړی د جنه پده (janapada) اصطلاح د يوه هيواد يا د کلتوری واحد له پاره استعمالوی . د هغو په جمله کې ګندهارا ،کاپيسا ، بلهيکا (بلخ) او کمبوجه (Kamboja) دامو سر چينه يا پامير ياد شوی دی . پانيني په کاپيسا کې د کونړ او هندوکش تر منځه زمکه شامله بللې ده او د هغې غر درو هيتاګيری Rohitageri په نامه يادوي چې د کاپيسا ولايت د بلهيکا څخه بيلوی او هغه همدا هندوکش دی چې د ميلاد نه څلور پيړی د مخه د ګندهارا خلکو دروهيتاګيري په نامه ياداوه .

په مهابهاراتا Maha Bharata نومي کتاب کې چې په ( ۱۲۰۰ ق.م) کې ليکل شوی او بيا په ( ۸۰۰ م) کې په سانسکريټ منظوم شوی دی د افغانستان زمکه د (لوها Loha) په نامه ياده شوې ده چې د (روه ) يو هندی شوی تلفظ دی .

دروه دحدودو په باب د ډار مستتر نظر هم په زړه پورې دی . چې وايي :

دا (دپښتنو ملک "دري علاقې لري : يوه برخه په برتانوی هند کې داخله ده بله

ازاد سرحد دی ، بله هم په افغانستان اړه لری چې له دریو پیړیو څخه دروه یعنی غره په نامه یادیدلې او روه یې داسې تعریف کاوه : یو غرنی هیواد دی چې شمالاً سرات او باجوړ او جنوب یې سبوی او بکهر (سند) دی او له شرقه څخه له حسن ابداله تر کابله غرباً (یعنی غرب یې کابل) حسابیږي او کندهار سره ګډ دی "(۱)

او په دغه توګه موږ ګورو چې د (روه) کلمه په هندی منابعوکې په بیلو بیلو فورمونو ډیره لرغونتیا لري.

## د شي فاهیان په یادښتونوکې :

د څلور می میلادی پیړی په سر کې یو چینی زایر چې شی فاهیان نومیده د بودایې مذهبی کتابونو د ټولولو له پاره زموږ هیواد ته راغلی و . ده د کور مې نه په پاسنې برخه کې (روه) ، یا دده په ژبه (لو - ہی) (Lo-i) دیوه جلاولایت په توګه یاد کړي دی .

د کوشانی بادشاه هوښکا په څنو سکو باندې په یونانی مات لیک سره په میلادی (۱۷۰) کال کې د لوه (Loh) کلمه ضرب ده . که دا کلمه د سکې د ضرب ځای وی البته مطلب به ورڅخه هماغه سیمه وی چې فاهیان (لو - ہی Lo-i)

---

(۱) د دار مستتر پښتو څیړنې - سریزه - د پښتو ټولنې چاپ ۱۳۲۶ کال

اخیستې ده . فاهیان (لو - ہی ) دغزنی او سند تر منځه ښیی دا هغه ځای دی چې یل یتی زاېرهیون تسنګ د (اپوکان ــ Apokan ) په نامه یاد کړی دی .

باید وویل شی چې (روه )او (روهی ) داسې کلمې دی چې د پښتنو په لویدیځو برخو او هندکې یې شهرت لاره او په ختیځو کې دومره نه .

محمد قاسم هندوشاه په (تاریخ فرشته ) کې (۱۰۱۵ هـ ق) (۱۶۰۶ م) روه داسې تعریف کړی دی (روه له یوه مخصوص کوهستان نه عبارت دی چې د طول له مخې د بجوړ و (باجوړ ) د سوات نه د سیوی تر قطبی برخو چې سکر له توابعو څخه ده او عرض یې له حسن ابدال (چچ هزاره وادی ) نه نیولی تر کابله او کندهاره په دغه منځ غره کې واقع دی . (۱)

نامتو انګریز الفنستون لیکي په څنو انګریزي کتابونو کې مې لیدلی دي چې د پښتنو ملک ته روه وایي دا هغه کلمه ده چې په پنجابی کې د غره معنا ورکوي او بوازې یو ځو پښتنو ته د هند د کتابونو له لارې معلومه ده چې په هندوستان کې لیکل شوي دي . (۲)

---

(۱) د روه په باب داریانا مجلی د ۱۳۵۲ کال څلورمې ګڼې د پوهاند حبیبی له مضمونه استفاده شوی ده .

(۲) د کابل سلطنت بیان لومړی ټوک د (۱۶۲۱) مخ لمن لیک

د هندوستان مشهور پښتانه لیکوال رامپوري امتیاز علي عرشي (حاجی خیل گدون )د (دومین پشتو کاحصه ) نومی کتاب په ۹۷ مخ کې لیکلي دي :

اوس هم په روهیلی کنډ (رامپور ، مراد اباد ، بریلی ، شاهجهان پور اباد او . . . ) کې د روهیله کلمه د پښتون په معنا ژوندۍ ده ( ۱ ) او په هند کې د پښتنو ټو ټاټوبی روهیلکنډ اوس هم په هندي ژبو کې مستعمل دی . په پښتنو کې د غه کلمه لرغوني ادبی سابقه لري چې د افغان او افغانستان همزولې ده .

خوشحال خټک به خپلو اشعارو کې روه استعمال کړی :

چې د روه په ملک کې ښه پښتون یادیږي -نن مهمند بنگښ ورکزی او افریدی دی

په فارسی اشعارو کې ده خپل ځان دروهی او کله کله د هغه معنا کوهی د ځانله پاره استعمال کړی دی :

چوروهی درحدیث اید نبات و شکر افشاند

دران دم طوطی خوشگوي بلبل را چه یاد ارم

اشرف خان هجری خپل وطن د (روه )او ځان د (روهی ) په تخلص زښت ډیر یاد کړی دی :

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو　　سلام یا د را رسوي منت بې تم دی .

---

(۱) پښتانه- پټان )د پوهاند رشاد مقاله

د وصال لارې چې بندې ظلم زور کړي خام امل دروهی گوره چې رجا کا

کاظم خان شیدا وایي :

په زړه مې گرځي د غرونو څوکې حملې د بازو د زرکوکو کې

وواېه څه کا د روه نسیمه گېرا منگولې زېيا مېنو کې

ACKU

## د پښتنو درې څانګې

د پښتنو نسب چې د لرغونو مؤرخینو له خوا لیکل شوی دی نه یوازې افسانوي رنګ لري، بلکې له اضدادو هم خالي نه دی. له یوې خوا پښتنو نسب په عنعنوي توګه طالوت، حضرت یعقوب (ع) او حتی ابوالبشر ادم (ع) ته رسوي، خو له بلې خوا د پښتنو پلار قیس عبدالرشید بولي او دغه سلسله د اسلام د لومړۍ پیړۍ نه پیل کوي چې نه هغه او نه دغه د منلو وړ ده. د پښتنو د نسبي ویش په باب تقریباً ټول تاریخي کتابونه درې سکني ورونه او دوه ورپوري تړل شوي ورونه یادوي. په دې باب خوشحال خټک لیکي:

ACKU

پښتون په اصل کې سړبنی دی | یا غور غښتی دی یا بیټنی دی
لودی غلجی دی دبیټ له لوره | په سړبن پورې بیا کررانی دی

همدارنګه مخزن افغانی لیکي چې قیس عبدالرشید ته خدای (ج) درې زامن ورکړل : سړبنی ، بیټنی او غرغښتی . (۱)

مخزن افغانی چې د دغو دریو څانګو او لاده د طایفه په نامه او همدارنګه د پښتنو تولې (۳۹۵) قبیلې د طایفو په نامه یادوی او شمیري یې هغه په دغو دریو څانګو کې شاملې بولی : مثلاً سړبنی (۱۰۵) بیټنی (۲۵) متېری (۵۲) کررانی (کرلانی) (۱۲۰) او په دغه حساب دوی د هجری لومړی پیړی نه د یوې ورې کورنۍ (دری ورونو) په دول په تشکل پیل کړی دی (چې تراوسه یې نفوس تقریباً ترپنځه ویشتو ملیونو رسیدلې دي) . په دې صورت کې یې شمیره پوښتنې را منځ ته کیدای شي چې ځواب ور کول یې اسان نه دی .

په حقیقت کې پښتانه درې ورونه ګڼل دایو سمبولیک ترسیم دي چې پښتانه دوخت په شرایطو ، د استوګنې د سیمې ، د اجتماعی ژوند د شرایطو او د معیشت د طرز له مخې د دریو کتیګوریو سمبول ګڼل شوی دی او هغه په دې توګه دي :

---

(۱) د مخزن (۱۱۲-۵٤۹) مخونه د مثال له پاره وګورئ.

## الف: سړبن:

سړبن (څړه بن) (۱) هغه پښتانه چې غالباً د ښیښ او میشته دي د مالونورمې نه لري د (څړه) کلمه قاموسونو د (مجرد، بی عیاله) په معنا اخیستې، د (یوازې، گوښې) په معنا هم د پښتو په کلاسیکو ادبیاتو کې ډیره راغلې ده (۲) دلته دبې ماله اوبې رمو په معنا دی.

په (څړه بن) کې (څړه) ریښه او (بن) وروستاړی دی چې اوس د (بنه) په شکل موجود دی لکه په (کورېنه، غوېنه) کې چې اوس د ملکیت معنا افاده کوي. د معنا او ښتون یکې د زمانې په تیریدو سره راغلی دی.

په دغه گروپ کې درانی، زیرک، بارکزی، پوپلزی، موسی زی، اڅکزی، نورزی، الیزی، ادوزی، ساکزی (اسحاقزی)، مکو، خوگیانی، ترین... شامل دی.

کرلانی چې هم د څړبنو پښتنو په څانگه کې حساب دی، معنا یې (زارع) او (کرونده گر) ده، (کرله = زراعت) یې ریښه او (انی) وروستاړی دی.

مخزن افغانی د (کررانی) په فورم اخیستی او د کلمې اصالت یې له (کړاڼی) څخه بللی دی. هلته یوه قصه کوي چې لنډیز یې دادی:

د عبدالله په نامه یوه سړی چې د نیا یې زیاته وه او اولاد یې نه درلود یو سطل

---

(۱) داکلمه اصلاً د (څ) په غږ ده خو په پخوا نیو متونو کې د دغه توری د نشتوالی له امله د (س) په توری ثبت ده.

(۲) د زیات تفصیل له پاره یوه پانگه وگورئ.

موندلي و او دذکريا پـه نامـه بل سـړی چې اولاد يې ډير وخـود نـابې نه لرله دواړو سـره سطل او هلک مـبــادله کـړل . هلک د (کـړابي = سطل) په نامـه ياد شـو . په کرلانی کې: ورد ګ ، منګل ، اورکزی ، دلازاک ، اپريدی ، شبتک ، . . . شامل دی .

ب : بيټنی :

(کوچی دښتی ) د بيټ کلمه پښتو قاموسونو د دښت او بيابان په معنا اخيستې ده او بيديا -د (وچ ،دښت ) په معنا .اصلاً دا هغه پښتانه مالدار کوچيان دی چې د موسمونو په بدلون د کوچ اوليږد په حال کې په دښتو کې اوسيدل چې مخزن افغانی بې لاهغه وخت د قبيلو شمير (۲۵) ښوولی و (۱) په بيټنی کې:غلزی ، توخی ، هوتک، شاوخيل ، سليمانخيل ، اندړ ، تره کی ، خروټی ،. . . شامل دی .

ج : غرغوشتی :

دغــه کلمــه له دوو توکــو جــوړه ده لومــړی تـوکی بې (غـر ) دی دويم توکی بې (غوښت) دی دکلمې معنا د غره لټوونکی يعنی (غرګی )ده .

دا هغه نيمـه کروند ګراونيمـه کوچيان پښتـانه دی چې د غرونو په درو کی اصلاً

---

(۱) مخزن افغانی (۶۳۸-۶۳۹) مخونه

ميشته او څه اندازه مالونه بې هم وسره لرل . په غرغوشتي کې پني ، پاپې ،کاکړ ، مندوخېل، پارنه ، تغر . . .شامل دي.

دغه کلمه کله کله د (غور غوشتي ) په ليک دودهم ليکي . په دغه صورت کې يا خو (غور) د (غر) اوښتي ليکدود دی او يا خو د تاريخي غور سره د دغو پښتنو قبايلو د تاريخي ارتباط معنا لري .

---

ماخذونه:


١ - فرهنگ نامهای اوستا - مؤلف هاشم رضی -تهران ١٣٤٦ش کال .

٢ - د افغانستان تاريخ لومړی ټوک مؤلفين مسون او رمودين - مسکو ١٩٦٤ .

٣ - د کابل سلطنت بيان لومړی ټوک د علومو د اکاډمي خپرونه ١٣٦١ش .

٤ - د فردوسی شهنامه .

٥ - د شوروی اتحاد لويه انسايکلوپيډيا ٢٦ ټوک دريم چاپ ١٩٧٧ کال .

٦ - جغرافيه افغانستان د ١٣٠١ کال چاپ کابل .

٧ - ا فرينش تاريخ - مؤلف مطهر بن مقدسی دريم ټوک تهران ١٣٤٩ش.

٨ - تواريخ خورشيد جهان - شير محمد گنداپور ١٨٩٤ .

٩ - حيات افغانی - ډپټی محمد حيات خان ١٨٦٧ لاهور .

١٠ - تاريخ حبيب السير - غياث الدين بن همام الدين الحسيني تهران ١٣٣٣ش

١١ - تذکرت الابرار والاشرار - اخوند درويزه .

۱۲ - نورو ک ببر .

۱۳ - تاریخ ایران باستان مؤلف حسن پیرنیا . ج . اول تهران ۱۳۳۱ ش کال .

١٤ - جغرافیای تاریخی ایران - مؤلف برتولد چاپ اول تهران ۱۳۰۸ ش کال .

۱۵ - تاریخی جغرافیه - و .و .برتولد اووم ټوک مسکو ۱۹۷۱ کال.

١٦ - تاریخ افغانستان، مونومیجر ک .ا. بیلیو ، د منشی احمد جان ترجمه

پېښور ۱۹۳۰ کال.

۱۷ - د اریانی فیلالوژۍ اساسونه ی . د . اورانسکی ، مسکو ، ۱۹٦۰کال .

۱۸ - حدود العالم منا المشرق الی المغرب د کابل پوهنتون چاپ ۱۳٤۲ش کال.

۱۹ - د دارسستتر پښتو څیړنې - د پښتو ټولنې چاپ ۱۳۲٦ ش کال .

۲۰ - تاریخ مرصع د افضل خان خټک تالیف .

۲۱ - د وږمې مجله د ( ۱۳۵۲ ) ش کال .دریمه گڼه د پوهاند رشاد مقاله.

۲۲ - آریانا مجله - د ۱۳٤۸ش کال دویمه گڼه د پوهاند حبیبی لیکنه .

۲۳ - کابل مجله د ۱۳۵۰ کال د سرطان گڼه .

٢٤ - د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک .

۲۵ - د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک .

۲٦ - تاریخ افغانستان ج اول - مرحوم کهزاد .

۲۷ - د خوارزم د لرغونی تاریخ په منډ تو ، س. پ . تولستوی ،مسکو،۱۹٤۸ .

۲۸ - تاریخ افغانستان بعد از اسلام ، بخش دوم ج اول مؤلف پوهاند عبدالحی
حبیبی کابل ۱۳۵۷ ش کال .
۲۹ - سواتنامه خوشحال ختیک .
۳۰ - د پاکستان اولسونه ، مؤلف گانکوفسکی ،مسکو ۱۹٦٤ کال.
۳۱ - د افغانستان او بلوچستان یاد داشتونه ، مؤلف میجر راورتی د لندن چاپ
۱۸۷۸ م کال.
۳۲ - طبقات ناصری - عبدالحی حبیبی . تاریخ ټولنه ۱۳٤۳ ش کال .
۳۳ - هیوادونه او وګړی ، پنځلسمه خپرونه ،و .ا .رومودین مسکو -۱۹۷۳ .
۳٤ - حیات افغانی دل .طالبی اوف - ظریفی د پښتو ترجمه ، داقوامو او قبایلو
د گستتنر چاپ .
۳٥ - مخزن افغانی ، خواجه نعمت اله هروی د ډاکې چاپ ۱۹٦۰ کال .
۳٦ - تاریخنامه هرات -سیفی هروی ،کلکته ۱۳۱۲ کال .
۳۷ - پښتانه (د پټانز ) اولف کیرو - ترجمه شوې پاڼې .

PROPERTY OF ACKU 7603
PROPERTY OF ARIC

## د سر محقق دوست شینواري چاپ شوي کتابونه :

الف: تألیفات:

۱ - سلګی (داشعارو مجموعه) - پښتو ټولنه ، ۱۳٤٦ ش.

۲ - د افغانستان ژبې او توکمونه - پښتو ټولنه ، ۱۳٥٤ ش.

۳ - د پښتو اولسي ادب لارې - پښتو ټولنه ، ۱۳٥٦ ش.

٤ - پښتانه کوچیان . لومړی توک - پښتو څېړنو بین المللي مرکز ۱۳٦۲ ش.

٥ - د ادب د تیوري اساسونه - د چاپ او څېړنو دولتي کمیټه ۱۳٦٥ ش.

٦ - زړه پانګه لومړی توک (قاموس) ، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ۱۳٦۳ ش.

۷ - د خوشحال خټک هغه اشعار چې تر اوسه نه دي چاپ شوي (څېړنه ، قلمي ).

دغه اشعار چې د قلمي نسخو څخه راټول شوي دي بوه برخه یې د خوشحال د کلیاتو په لومړي توک کې خپره شوې ۱۳٥۹ ش کال د علومو اکاډمي چاپ.

۸ -افغانستان په اوپستا کې ، د نشراتو ریاست ۱۳٦۹ ش.

۹ -ژبپانګه (قاموس) ۱۳۷۷ ش پېښور .

۱۰ -پښتانه څوک دي ؟ ۱۳۷۷ ش پېښور .

۱۱ -په پښتو کې د طبي بوټو نومونه (ناچاپ)

ب: هغه آثار چې د مؤلف په اهتمام ، تحشیه ، مقدمه او لغتنامو سره چاپ شوي دي .

۱ - دمیرزاخان انصاري دیوان - پښتو ټولنه ۱۳٥٤ ش

۲ - روښاني رساله - پښتو ټولنه ۱۳٥٥ ش کال .

۳ - د سکندر خټک لیلا او مجنون ، پښتو ټولنه ۱۳٥۸ ش کال .

٤ - د صدیق دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳٥۸ ش

٥ - د علم رساله ، دافغانستان د علومو اکاډمي ۱۳٦٤ ش .

٦ - اختیارات بدیعي ( ناچاپ).

ACKU

# Who are Pashtoons?

"Genealogy of Pashtoons"
and
Description of their different names

By
Senior Researcher Dost Shinwary

Year: 1998

د چاپ ځای: دانش کتاب پلورنځی، قصه خوانی، پېښور